# د لوړو زده کړو وزارت

# وردګ پوهنتون

# د علمي او محصلانو چارو معاونیت

# کمپیوټر ساینس پوهنځی

# د ستراتیژیک پلان کمېټه

**د کمپیوټر ساینس پوهنځي پنځه کلن ستراتیژیک پلان(۱۴۰۵- ۱۴۰۹ هـ ش)**



کال: ۱۴۰۵

## ځانګړنې


عنوان: د کمپیوټر ساینس پوهنځی پنځه کلن ستراتیژیک پلان(۱۴۰۵- ۱۴۰۹ هـ ش)

د پاڼو شمېر:۱۱۴

ترتیب کوونکي: د کمپیوټر ساینس پوهنځي د ستراتیژیک پلان کمېټه

د ستراتیژیک پلان کمېټې د تصویب نېټه ۱۴۰۵/۳/۳۰

د پوهنځي د علمي شورا د تصویب نېټه ۱۴۰۵/۳/۳۱

د پلان او پالیسی د مرکزي کمېټې د تصویب نېټه:۱۴۰۵/۵/۲۶

د پوهنتون د علمي شورا د تصویب نېټه:۱۴۰۵/۵/۲۶



پته: د توپ دښته، د داخلي پولیسو روزنیز مرکز ته څیرمه- میدان وردګ ولایت-
افغانستان

ایمل آدرس:info@wu.edu.af

ویب سایټ:www.wu.edu.af

بسم الله الرحمن الرحيم

## د مطالبو فهرست

**عنوان** **صفحه**

د کمپيوټر ساينس پوهنځی رئيس پيغام ........................ ۱

د کمپيوټر ساينس پوهنځی ستراتيژيک چارجوب ........................ ۲

د ستراتيژيک پلان د مفاهمو تعريف ........................ ۳

لومړي څپرکی ........................ ۶

عموميات ........................ ۶

سريزه ........................ ۶

د کمپيوټر ساينس پوهنځي لنډه پيژندنه او اوسنۍ وضعيت ........................ ۷

دکمپيوټر ساينس پوهنځي تشکيلاتي چارت ........................ ۹

د محصلانو تحليل ........................ ۱۰

د کمپيوټر ساينس پوهنځي سره ښکيل اشخاص او اداري ........................ ۱۲

د کمپيوټر ساينس پوهنځي د فزيکي چاپيريال تحليل ........................ ۱۲

دوهم څپرکی ........................ ۱۳

لرليد ........................ ۱۳

رسالت ........................ ۱۳

ارزښتونه ........................ ۱۳

ستراتيژيکې موخې ........................ ۱۳

د وردگ پوهنتون د اوږد مهاله ستراتيژيک پلان د لس گونو لويو موخو په رڼا کې د کمپيوټر ساينس پوهنځي بنسټيزې موخې او پروگرامونه ........................ ۱۴

۱ - د علمي څېړنو، علمي توليد او نوښت پراختيا ........................ ۱۴

۲- د اغيزمن ،شفاف مديريتي او رهبری سيستم پياوړتيا، د عوايدو زياتوالی او د اداري فساد مخنيوی ........................ ۱۵

۳- د ټولنې اړتياوو او نړيوالو معيارونو سره سم د نصاب پراختيا او کيفيت ښه والی ........................ ۲۰

۴- په تحصيلي نظام کې معلوماتي ټکنالوژۍ ته وده او پراختيا ورکول ........................ ۲۲

۵- د زيربناوو پراختيا، پياوړتيا او تجهيزول ........................ ۲۳

٦- د علمي کادر غړو او اداري کارکوونکو د ظرفيت لوړول..........................................................۲۴
۷- له علمي او اکاډميکو بنسټونو سره د اړيکو پياوړتيا..........................................................۲۶
۸- د تدريس او زده کړې کيفيت لوړول او د کيفيت تضمين پياوړتيا..........................................................۲۸
۹- د علمي او مسلکي کادرونو روزنه، پياوړتيا او وده..........................................................۲۹
۱۰- د علمي، اداري او مالي چارو د شفافيت او اغېزمن مديريت پياوړتيا..........................................................۳۱
دريم څپرکی..........................................................۳۳
د محيطي عواملو تحليل (SWOT Analysis)..........................................................۳۳
داخلي عوامل..........................................................۳۴
د قوت ټکي Strengnth..........................................................۳۴
د ضعف ټکي Weakness..........................................................۳۴
د داخلي چاپېريال د لاملونو تحليل..........................................................۳۵
خارجي عوامل..........................................................۳۶
فرصتونه ( Opportunitiess)..........................................................۳۶
گواښونه ( Threats)..........................................................۳۷
د خارجي محيط د عواملو تحليل او تجزيه..........................................................۳۷
د پوهنځي د چاپيريال د داخلي او د بيروني عواملو مقايسه..........................................................۳۸
(IE) تگلاره..........................................................۳۸
د سواټ(SWOT) تگلاره..........................................................۴۱
څلورم څپرکی..........................................................۴۴
د موخو او ستراتيژيو تدوين..........................................................۴۴
د تگلارو ( ستراتيژيو ) ټاکنه..........................................................۴۴
د علمي کادرونو د ظرفيت لوړول..........................................................۴۴
د عصري او بازار محور نصاب پراختيا..........................................................۴۵
د عملي زده کړو او تخصصي لابراتوارونو پياوړتيا..........................................................۴۵
د ډيجيټلي زده کړو او ټکنالوژی پراختيا..........................................................۴۵
د څېړنې نوښت او پراختيا..........................................................۴۶
د محصلينو د علمي او مسلکي وړتياوو لوړول..........................................................۴۶

د تدریسي چاپیریال او تعلیمي زیربناوو معیاري کول.......................................................۴۶
د درسي او علمي منابعو پراختیا..............................................................................۴۷
له اړوند ادارو سره د همکاریو پراختیا.......................................................................۴۷
ښه اداره او اغیزمنه رهبري..................................................................................۴۷
د کیفیت د تضمین او اداري مؤثریت پیاوړتیا..............................................................۴۸
لوړو زده کړو ته د لاس رسي پراختیا........................................................................۴۸
د (QSPM) په اساس د ستراتیژیو د لومړیتوبونو ټاکل....................................................۴۹
د استراتیژیک لومړیتوب تعین کول.........................................................................۵۳
دوهمه برخه .......................................................................................................۶۴
د ستراتیژیک پلان تطبیق ......................................................................................۶۴
پنځم څپرکی .......................................................................................................۶۴
د کمپیوټر ساینس پوهنځي لنډ مهاله موخې ...........................................................۶۴
عملیاتي برنامو تدوین ..........................................................................................۶۵
د راتلونکو پنځو کلنو(۱۴۰۵-۱۴۰۹هـ ش) لپاره د کمپیوټر ساینس پوهنځي بودیجه او بودیجه ریزي..........۱۱۳
شپږم څپرکی .....................................................................................................۱۱۴
دستراتیژی اجرای.............. ....................................................................................۱۱۴
د ستراتیژی د تطبیق لپاره د بنسټ جوړول او د لازمې زمینې برابرول.................................۱۱۴
د کمپیوټر ساینس پوهنځی د ستراتیژی عملي کول او پلي کول........................................۱۱۴
د پالیسیو او داخلي تګلارو اصلاح او انعطاف.............................................................۱۱۴
د ستراتیژی ارزیابي...............................................................................................۱۱۵
دریمه مرحله .......................................................................................................۱۱۶
آووم څپرکی .......................................................................................................۱۱۶
پوهنځي د ستراتیژیکو کړنلارو نظارت او ارزونه...........................................................۱۱۶
د ستراتیژیک پلان د ارزونې چک لېست ....................................................................۱۱۷

# د کمپیوټرساینس پوهنځي د رئیس پیغام

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ، سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ ﷺ، وَعَلَىٰ آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ.

په ډېرې خوښۍ او ویاړ سره د کمپیوټرساینس پوهنځي د پنځه کلن ستراتیژیک پلان (۱۴۰۵-۱۴۰۹ هـ.ش) د وړاندې کولو ویاړ لرو. دا ستراتیژیک پلان د پوهنځي د علمي پرمختګ، اداري پیاوړتیا، څېړنیزو فعالیتونو، کیفیت لوړونې او ټولنې ته د اغېزناکو خدمتونو د پراختیا لپاره یو هراړخیز او راتلونکی لرلید وړاندې کوي.

په داسې حال کې چې معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژي په بې‌ساري ډول د نړۍ د پرمختګ محور ګرځېدلې دي، د کمپیوټرساینس پوهنځی ځان مسؤل ګڼي چې د مملکت د اړتیاوو او د سیمې په کچه د علمي معیارونو سره سم، داسې مسلکي، نوښتګر او متعهد کادرونه وروزي چې د ډیجیټلي بدلون، اقتصادي ودې او ټولنیز پرمختګ په بهیر کې اغېزناک رول ولوبوي.

دا ستراتیژیک پلان د پوهنځي د اوسني وضعیت د ارزونې، د شته فرصتونو او ننګونو د تحلیل، د اړوندو اصولو، د لوړو زده کړو عمومي پالیسیو او د ذی‌دخلو اړخونو د نظریاتو پر بنسټ ترتیب شوی دی. په دې پلان کې د پوهنځي لرلید، مأموریت، بنسټیز ارزښتونه، ستراتیژیې موخې، د تطبیق کړنلارې، د فعالیتونو شاخصونه او د ارزونې میکانیزمونه په روښانه ډول تعریف شوي دي، ترڅو د ټاکل شویو موخو ترلاسه کول په اغېزمنه او منظم ډول ممکن شي.

موږ باور لرو چې د دې ستراتیژیک پلان په ښه ډول تطبیقیدل به یوازې د پوهنځی د رهبرۍ په هڅو نه، بلکې د څانګو د قدرمنو آمرینو، درنو استادانو، اداري کارکوونکو، محصلینو، د پوهنتون د رهبرۍ، دولتي او خصوصي بنسټونو او ټولو شریکانو په ګډې همکارۍ او ژمنتیا پورې تړلی دی. له همدې امله، له ټولو محترمو همکارانو او شریکانو څخه هیله کوو چې د دې پلان د موخو د تحقق لپاره خپل علمي، مسلکي او اخلاقي مسؤلیت په پوره احساس ترسره کړي.

په پای کې، د لوی څښتن تعالی دربار ته دا دعا کوو ترڅو موږ ته د دې ستراتیژیک پلان د موخو په ښه ډول تطبیق کې بریالی شو، چې وکولای شو د پوهنځی د علم، څېړنې، نوښت او کیفیت له پلوه د مملکت او سیمې په کچه د باور وړ او مخکښ علمي مرکز وګرځي او د افغانستان د دوامدار پرمختګ لپاره وړ، متخصص او متعهد بشري ځواک وروزي، والسلام.

پوهنیار سیدرحیم نېکمل

د کمپیوټر ساینس پوهنځی رئیس

## د کمپیوټر ساینس پوهنځی د ستراتیژیک پلان چارچوب

د پوهنتونونو لپاره د ستراتیژیک پلان په چوکات کې دوه ماډلونه وړاندیز شوي، وردګ پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي ستراتیزیک پلان جوړښت د لاندی ماډل له مخې جوړ کړی دی.



## د ستراتیژیک پلان د مفاهمو تعریف

**مفاهیم:** مفاهیم د هغو بنسټیزو علمي او اداري اصطلاحاتو ټولګه ده چې د ستراتیژیک پلان د موضوعاتو د روښانه درک، تحلیل او عملي تطبیق لپاره کارول کېږي. په لاندې کرښو کې به د برنامې هره برخه تعریف کړل شي.

**پلان:** د پوهنځي د موخو د ترلاسه کولو لپاره د فعالیتونو، سرچینو او وخت منظم او عملي ترتیب دی.

**تګلاره (ستراتیژي):** تګلاره ( ستراتیژي ) هغه اوږد مهاله لاره او پالیسي چې پوهنځی د خپلو علمي، څېړنیزو او اداري موخو د تحقق لپاره غوره کوي.

**ستراتیژیک پلان:** ستراتیژیک پلان یو اوږدمهاله پلان دی چې د پوهنځي د پرمختګ لپاره لیدلوری، ماموریت، موخې او د عملي کولو ستراتیژۍ ټاکي او د فعالیتونو د همغږۍ او ارزونې بنسټ جوړوي.

**د ستراتیژیک پلان مدیریت:** ستراتیژیک پلان مدیریت د هغو مدیریتي فعالیتونو مجموعه ده چې د ستراتیژیک پلان د طرحې، تطبیق، څارنې، ارزونې او دوامداره ښه‌والي له لارې د پوهنځي د لیدلوري، ماموریت او موخو د مؤثر تحقق لپاره ترسره کېږي.

**سمون:** د ستراتیژیک پلان یو پړاو دی چې لاندې برخې لري:

د لیدلوري ځانګړي کول، ماموریت، ارزښتونه، موخې، چاپیریالي لاملونه ( داخلي او خارجي ) د ستراتیژیک حالت او ممکنه تګلارو ( ستراتیژیو ) ټاکل د لومړیتوبونو تعینول.

**کړنه:** د ستراتیژیک پلان دوهم پړاو دی چې لاندې برخې پکې شاملې دي.

د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکل، د لنډ مهاله موخو معلومول، کلنی عملیاتي پلان، د بودجی سمون، د پوهنځي د فزیکي جوړښت لپاره طرحې، د اجرایوي پالیسیو سمون، د پوهنځي رهبری د لارو چارو ټاکل او د سرچینې ځانګړې کول.

**ارزونه:** ارزونه د ستراتیژیک پلان درېیم پړاو دی، چې په کې د پوهنځي د فعالیتونو، لاسته راوړنو او موخو د تحقق کچه د لوړو زده کړو د معیارونو او پالیسیو له مخې ارزول کېږي او د ښه‌والي لپاره لازم اصلاحات وړاندیز کېږي.

**لید لوری:** د پوهنځی ذهني انځور ته وایي چې غواړي د خپلو کړنو په پایله کې یې تر لاسه کړي.

**ماموریت:** د پوهنځی د شته والي یو داسې ذریعه ده چې له نورو پوهنځیو سره یې توپیر په ډاګه کوي .ماموریت باید روڼ او د پوهنځی چارو ته د پوهېدلو او منلو وړ وي.

**موخه:** عبارت له هغو ټکو څخه ده چې د ټولو اکاډمیکو کړنو پایله اخېستنه ترلاسه شي .موخې باید د لاسته راوړنې او ننګونې وړ وي او یو ټاکلی وخت په بر کې ونیسي او د څېړنې لارې چارې یې باید ځانګړې وي او دغه موخې تر ډېره باید پاشلي نه وي.

**ارزښتونه:** ارزښتونه په خپله د پوهنځی منل شوي اصول دي چې د دې پر بنسټ د پوهنځی ماموریت او موخې ترلاسه کېږي . په ټوله کې د پوهنځی ارزښتونه هغه اصول او لارښوونې دي کوم چې د پوهنځی د پرېکړې نیولو، پراختیا او حرکت لوری ټاکي.

**د داخلي لاملونو د تحلیل ماتریکس:** داخلي لاملونو هغه عناصر دي چې د پوهنځی په دننی برخو پورې اړوند وي او د بیرونې لاملونو په خلاف د اداري د مدیریت او کنترول لاندې وي او په دوه برخو وېشل کېږي :پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې چې د چاپیریالي لاملونو د تحلیل له مخې تجزیه او تحلیل کېږي.

**د بېروني لاملونو د تحلیل ماتریکس:** د پوهنځی د لوی چاپیریال تجزیه او تحلیل، د کړنو څېړنه، په پوهنځی کې رامنځته شوو ګواښونو او فرصتونو تفسیر او مشاهده د چاپیریالي لویو لاملونو له مخې .نو په همدې بنسټ پوهنځی خپل لوی چاپیریال د تجزیې او تحلیل ته په کتو په بېلابېلو اقتصادي، سیاسي، قانوني، ټولنیز، فرهنګي، فني او نړیوالو ساحو کې بدلونونه په پام کې نېول کېږي او بیا دغه لاملونو د څېړنې لاندې نېسي چې د بهرنیو لاملونو تحلیل ماتریکس په پاملرنې سره يې تجزیه او تحلیل کوي.

**داخلي و خارجي لاملونه:** دا ماتریکس د داخلي او خارجي لاملونو د پرتلنې او پلي کېدا په برخه کې یو له چمتو ابزارو څخه ګڼل کېږي چې د پوهنځی د ستراتیژیک حالت ټاکنې او د وړو تګلارو( ستراتیژیو ) ټاکنې لپاره لاره برابروي.

**سواټ:** د پیاوړتیاوو، کمزورتیاوو، فرصتونو او ګواښونو مخففه بڼه ده .او دا تګلاره د استراتیژیو د چمتو کولو د ابزارو څخه ګڼل کېږي .له دې تحلیل څخه په ګټې اخېستنې دا امکان برابرېږي چې لومړی داخلي او خارجي چاپیریالونه په کې تجزیه او تحلیل کېږي، او په دویم ګام کې ستراتیژیکې پرېکړې نېول کېږي تر څو د اداري پیاوړتیاوې له چاپیریالي فرصتونو سره متوازنې شي.

**د قوت ټکي**: ه ممتازې وړتیا څخه عبارت ده چې په وسیله يې یو پوهنځی کولی شي د مالي سرچینو، د اخېستونکو تر منځ ذهني مثبت انځور او د تامینوونکو سره مثبتې اړیکې او نور ګڼ اړخونه په پام کې نېول کېږي.

**د ضعف ټکي:** په سرچینو، مهارتونو، امکاناتو او وړتیاوو کې یو ډول کموالي او محدودیت څخه عبارت دی چې په محسوسه توګه د پوهنځي د کړنو د اجرا مخنیوی کوي.

**فرصت:** د هر ډول بهرني عامل څخه عبارت دی چې د پوهنځی سره د ماموریت په لاسته راوړلو کې مرسته کوي. یا په بل عبارت فرصت یو پټ ظرفیت دی چې ورڅخه په ګټې اخېستنې سره پوهنځی مثبت لوري ته وده کوي او د پوهنځی لپاره د لېدو وړ خواږه لري.

**ګواښ:** د پوهنځی په بهروني چاپيريال کې د نامطلوبې بريا ميزان ته وايي لکه د بنسټيزو تامينوونکو او اخېستونکو د چنو وهلو وړتيا، د ټکنالوژی د ناڅاپي او عمده تغيير او نور موارد چې کېدای شي د پوهنځی په لاره کې عمده ګواښ وګڼل شي.

**بريدګري کړنلاري( ستراتيژيګانې(SO) :** پوهنځی د دې تګلارو( ستراتيژيو )په چوکاټ کې د داخلي پياوړو ټکو څخه په ګټې اخېستنې سره هڅه کوي چې له شته فرصتونو څخه ګټه پورته کړي.
**ځان ساتونکي کړنلاري( ستراتيژيګان ( WO ):** له دې تګلارو( ستراتي ژو )څخه موخه شته فرصتونو څخه په ګټه اخېستنې داخلي کمزورو ټکو ته پياوړتيا ورکول دي.
**رقابتي کړنلاري( ستراتيژيګانې(ST ):** پوهنځی د دې تګلارو( ستراتيژيو )په لاره اچولو سره هڅه کوي چې د پياوړتيا ټکو په کارونې په بهروني چاپيريال کې د شته ګواښونو اغېزې کمې کړي او يا يې له منځه يوسي.
**دفاعي کړنلاري( ستراتيژيګانې ( WT ):**پوهنځی د دې ډول تګلارو( ستراتيژيو ) په کارونې سره دفاعي حالت غوره کوي او موخه ترې د داخلي کمزورو ټکو کمول او د بهروني چاپيريال له ګواښونو څخه ځان ساتنه ده.
**د کميتي اوږد مهاله( ستراتيژيک )پلان جوړونې ماټريکس** :له دې تګلارې څخه په ګټې اخېستنې د ستراتيژيګانو بېلابېلې برخې پېژندل کېږي او د پلي کېدو پر مهال د ارزونې لاندې نېول کېږي .دا ماټريکس د هرې کړنلاې( ستراتيژی ) لپاره لومړيتوب ټاکي . د پوهنځی مديران او پلان جوړونکي د تګلارو( ستراتيژيو ) نسبي راښکون او لومړيتوب ته په پام د غوره تګلارو (ستراتيژيو ) د ټاکنې په اړه پريکړه کوي .د دې تګلارې په واسطه کولی شو له بيلابېل ستراتيژيګانو څخه وړ او مناسبه تګلاره( ستراتيژی ) غوره او وټاکو.

# لومړی څپرکی

## عمومیات

**سریزه:**

پلان جوړونه د هرې ادارې د بریالیتوب، پرمختګ او دوامداره ودې له اساسي اړتیاوو څخه شمېرل کېږي. هره اداره د خپلو ځانګړو موخو، مسؤلیتونو او لومړیتوبونو د تحقق لپاره اړ ده چې خپلې چارې د یوه منظم، علمي او سیستماتیک پلان له مخې تنظیم او مدیریت کړي. د پلان جوړونې اساسي موخه د سرچینو اغېزمنه ګټه اخیستنه، د فعالیتونو همغږي، د وخت او لګښت سپما او د ټاکل شویو موخو پر وخت او اغېزمن تحقق دی. د یوې ادارې بریا تر ډېره بریده د هغې د پلان جوړونې پر کیفیت، د پلان د عملي کولو پر څرنګوالي او د فعالیتونو پر منظمې څارنې او ارزونې پورې تړاو لري.

کله چې پلان د یوې ادارې د اوږدمهاله لیدلوري، ماموریت، موخو، لومړیتوبونو او پرمختیايي تګلارو پر بنسټ په علمي او منظم ډول ترتیب شي، نو هغه ته **ستراتیژیک پلان** ویل کېږي. ستراتیژیک پلان د ادارې لپاره د راتلونکو کلونو د پرمختګ نقشه ده، چې د داخلي او بهرنیو شرایطو د تحلیل، فرصتونو او ګواښونو د ارزونې او د قوتونو او کمزوریو د پېژندنې له لارې د ادارې د پرمختګ مسیر ټاکي. د ستراتیژیک پلان شتون د دې لامل کېږي چې اداره خپلې موخې په ټاکلي وخت، د لږ لګښت، اغېزمن مدیریت او غوره کیفیت سره ترلاسه کړي او د بدلونونو پر وړاندې د مناسبې پرېکړې کولو وړتیا ولري.

په اوسني عصر کې، چې معلوماتي ټکنالوژي، نوښت، علمي څېړنې او کیفیت لرونکې لوړې زده کړې د ټولنو د پرمختګ اساسي عوامل ګڼل کېږي، د پوهنتونونو او پوهنځیو لپاره د ستراتیژیک پلان جوړول یو مهم او نه بېلېدونکی اصل دی. ټولې اکاډمیکې ادارې د یوه منظم ستراتیژیک پلان له لارې کولای شي خپل علمي، څېړنیز او اداري فعالیتونه په اغېزمن ډول تنظیم کړي، د کیفیت تضمین معیارونه پلي کړي او د ملي او نړیوالو علمي معیارونو سره همغږي رامنځته کړي.

د همدې اړتیا له مخې، د وردګ پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي هڅه کړې ده چې خپل اوږدمهاله ستراتیژیک پلان د لوړو زده کړو وزارت د نافذه مقرراتو، د کیفیت تضمین معیارونو او د ستراتیژیک پلان جوړونې د اصولو په رڼا کې ترتیب کړي. په دې پلان کې د پوهنځي لنډه پېژندنه، لیدلوری، ماموریت، ارزښتونه، ستراتیژیکې موخې، د داخلي او بهرنیو عواملو تحلیل، سواټ (SWOT) تحلیل، ستراتیژۍ، عملي پلانونه، د پلي کېدو میکانېزم او د څارنې او ارزونې کړنلارې په منظم او علمي ډول بیان شوې دي.

تمه ده چې د دې ستراتیژیک پلان په اغېزمن پلي کېدو سره به د کمپیوټر ساینس پوهنځی وکولای شي د تدریس، علمي څېړنو، نوښت، معلوماتي ټکنالوژۍ، بشري سرچینو د ظرفیت لوړولو، اکاډمیکو همکاریو او د ټولنې د اړتیاوو د پوره کولو په برخو کې د پام وړ پرمختګونه ترلاسه کړي او د هېواد د لوړو زده کړو د نظام په پیاوړتیا کې خپل رغنده رول ولوبوي.

**د کمپیوټر ساینس پوهنځي لنډه پیژندنه او اوسنی وضعیت:**

د کمپیوټر ساینس پوهنځی په ۱۴۰۰هـ ش کال د لوړو زده کړو وزارت له خوا د وردګ پوهنتون په وړاندیز سره منظور شوه او د یاد پوهنتون په داخل کې یې په خپلو علمي او اکاډمیکو فعالیتونه پیل وکړ. یاد پوهنځی که له یوې خوا نوی وه له بلې خوا یې استادان نه یوازې نوي ، بلکې لږ هم وو. د دې تر څنګ امکانات یې ډیر لږ او د اداري او علمي فعالیتونو سره د نوو استادانو نابلدتیا هغه ستونزې وې چې د پوهنځی مسئولین ورسره مخامخ وو. خو بیا هم د دې پوهنځی د ځوانو استادانو قوي عزم او د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژی په ساحه کې د هیواد د ځوان نسل د روزنې سره قوي تعهد هغه څه وو چې دغو ټولو ستونزو ته یې اوږه ورکړه او په پوره باور او قوي اراده یې د اداري او اکاډ میکو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره شپه او ورځ یوه کړه او د پوهنتون د رهبرئ په ځانګړې پاملرنه او همکارئ یې د پوهنځی کالبوت ته ساه ورکړه، نن یې دا دی د دې پوهنتون د سابقه لرونکی پوهنځیو په کتار کې ځان ثابت کړی او په پوره آمادګۍ فعالیت لري. اوس مهال د کمپیوټر ساینس پوهنځی دوې ځانګې لري: یوه معلوماتي سیستم ځانګه او بله یې د انجنیري شبکې ځانګه ده د ځانګو له پاره آمرین ټاکل شوي او په نورمال ډول خپلې چارې پرمخ وړي د ۱۴۰۱هـ ش کال د کانکور په آزموینه کې ۱۲۴ تنه محصلان د ۱۴۰۲ هـ ش کال د کانکور په آزموینه کې ۱۴۲ تنه محصلان او د ۱۴۰۳ هـ ش کال د کانکور په آزموینه کې ۸۹ محصلان او د ۱۴۰۴ هـ ش کال د کانکور په آزموینه کې ۹۴ محصلان تردې دمه د هیواد له بېلو بېلو ولایتونو څخه د کانکور آزموینې له لارې یاد پوهنځی ته کامیاب شوي دي. د کمپیوټر ساینس پوهنځی ۴۴۹ تنه محصلین لري . یاد پوهنځی د استادانو شمېر اوس مهال (۹) تنو ته رسیږي چې د پوهنځی ټولې علمي او اکاډمیکې چارې تنظیموي . د پوهنځی ډیرې ستونزې هوارې شوې دي. د استادانو تعداد زیات شوی او ځانګې پرانیستل شوې دي.

(۱) جدول د کمپیوټر ساینس پوهنځی او ځانګو او په ځانګو کې د موجوده استادانو او محصلانو شمېر:

| شمېره | پوهنځي | ځانګه | استادان | محصلان | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کمپیوټر ساینس | معلوماتي سیستمونه | ۵ | ۳۵۵ | |
| ۲ | | انجینیري شبکه | ۴ | ۳۲۰ | |

(۲) جدول د کمپیوټر ساینس پوهنځی د فارغ محصلانو شمېر:

| شمېره | پوهنځي | ځانګه | فارغ محصلان | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | کمپیوټر ساینس | معلوماتي سیستمونه | ۰ | |
| ۲ | | انجینیري شبکه | ۰ | |

(۳) د کادري غړو د تحصیلي ارتقا د احصایی جدول:

| ټول کادري غړي | لېسانس | ماستر جریان لري | ماستر | دوکترا جریان لري | دوکتور | ۱۴۰۰-۱۴۰۵ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | ۱۴۰۰ |
| | | | | | | ۱۴۰۱ |
| ۵ | ۵ | | | | | ۱۴۰۲ |
| ۵ | ۴ | ۱ | | | | ۱۴۰۳ |
| ۸ | ۴ | ۲ | ۲ | | | ۱۴۰۴ |
| ۹ | ۵ | ۲ | ۲ | | | ۱۴۰۵ |

(۴) د موجوده استادانو او محصلانو اړوند احصایه:

| | |
|---|---|
| د ټولو پوهندانو شمېر | ۱ |
| د ټولو پوهندویانو شمېر | ۰ |
| د ټولو پوهنملانو شمېر | ۱ |
| د ټولو پوهنیارانو شمېر | ۰ |
| د ټولو نوماند پوهنیارانو شمېر | ۷ |
| د ټولو استادانو شمېر | ۹ |
| د ټولو محصلینو شمېر | ۴۴۹ |

(۵) د کمپیوټر ساینس پوهنځی د بهلا بیلو ادارو سره د ګډو همکاریو د هوکړه لیکونو آدرسونه:

| شمېره | د ګډو همکاریو هوکړه لیکونه | |
|---|---|---|
| | هوکړه لیک | کتنې |
| ۱ | د شیخ زاید پوهنتون | د سند لاسلیک شوی دی |
| ۲ | د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژی ریاست | د سند لاسلیک شوی دی |
| ۳ | ټاپ ټارکیټ اکاډمی | د سند لاسلیک شوی دی |

**د کمپیوټر ساینس پوهنځي تشکیلاتي چارت:**



**د محصلانو تحلیل**

جدول ( ۱): د کمپیوټر ساینس پوهنځی د استادانو او اداري کارمندانو نسبت له محصلانو سره:

| د کمپیوټر ساینس پوهنځي د علمي کادر غړو /اداري کارمندانو او محصلانو نسبت | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کمپیوټر ساینس پوهنځي | | | معلوماتي سیستمونو څانګه | | | شبکه انجینري څانګه | | | اداري برخه | | |
| د استادانو تعداد | د محصلانو تعداد | نسبت | د استادانو تعداد | د محصلانو تعداد | نسبت | د استادانو تعداد | د محصلانو تعداد | نسبت | اداري کارمندانو تعداد | د محصلانو تعداد | نسبت |
| 9 | 373 | 1/41,4 | 5 | 190 | 1/38 | 4 | 183 | 145.75 | 2 | 373 | 1/186.5 |
| | | | | | | | | | | | |

ګرافیکي ښودنه - د کمپیوټر ساینس پوهنځي د استادانو او اداري کارمندانو نسبت له محصلانو سره:




شکل ( ۱ ) : د معلوماتي سیستمونو څانګي د استاد او محصل ترمنځ نسبت



شکل (۲) : د شبکې انجینري ځانګې د استاد او محصل ترمنځ نسبت




شکل (۳): د اداري کارمندانو او محصل ترمنځ نسبت



**د کمپیوټر ساینس پوهنځی سره ښکېل اشخاص او ادارې**

لاندې اشخاص او ادارې د کمپیوټر ساینس پوهنځي سره ښکیل اړخونه ګڼل کیږي:

1. د لوړوزده کړو وزارت
2. د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژی وزارت
3. د وردګ پوهنتون ریاست
4. د پوهنتون پرسونل (علمي کادرونه، اداري او خدماتي کارکوونکي)
5. محصلان او فارغان
6. د دولتي ادارو د معلوماتي ټکنالوژی څانګې
7. خصوصي شرکتونه او د معلوماتي ټکنالوژی شرکتونه
8. مخابراتي شرکتونه
9. د مملکت پوهان، مجرب مسلکي کسان او متقاعد استادان.
10. د مملکت په کچه هوکړه لیک لرونکي پوهنتونونه، څېړنیز مرکزونه او د کیفیت د تضمین اړوند ټولني یا اداري

**کمپیوټر ساینس پوهنځی د فزیکي چاپېریال تحلیل**

| ګڼه | د زیربناء ډول | موجودیت | کتنې |
|---|---|---|---|
| ۱ | تدریسی معیاري ودانی | √ | که څه هم خپل ځای نلري خو برحاله ځای یی مناسب دی |
| ۲ | کتابتون | √ | که څه هم مستقل کتابتون نشته خو د پوهنتون له عمومی کتابتون څخه استفاده کوو. |
| ۳ | کمپیوټر لب | √ | مستقل کمپیوټر لب شتون لري |
| ۴ | څیړنیز مرکز | √ | د پوهنتون په کچه شتون لري |
| ۵ | مسجد | √ | د پوهنتون په کچه شتون لري |
| ٦ | فوټوکاپی او کانتین | √ | |
| ۷ | معلوماتي ټکنالوژی مرکز | √ | د پوهنتون په سطحه شتون لري |
| ۸ | لومړنیو صحی خدماتو مرکز | √ | د صحي توکو لپاره یو ځانګړی اطاق او الماری شتون لري |

# دوهم څپرکی

## د کمپیوټر ساینس پوهنځي لرلید، رسالت او ارزښتونه

**لید لوری(Vision)**

د کمپیوټر ساینس پوهنځی هڅه کوي چې د مملکت او سیمې په کچه مخکښ علمي، څېړنیز او باوري بنسټ وي.

**رسالت(MISSION)**

کمپیوټر ساینس پوهنځی د معیاري تحصیلي نصاب، مسلکي کادري غړو، عصري ټکنالوژۍ او مناسب علمي چاپېریال په درلودلو سره ټولو اسلامي ارزښتونو ته ژمن نوښتگر او څېړنیز کادرونه روزي.

**ارزښتونه ( VALUES)**

۱- د اسلامي احکامو رعایت کول.

۲- ټولنې ته د ټکنالوژۍ په مرسته سهولتونه رامنځ ته کول.

۳- د اسلامي ټولنې اهدافو ته د رسیدو په موخه د کمپیوټري او ټکنالوژیکي چارو تنظیمول.

۴- د ټکنالوژۍ په عصري او پرمختللو میتودونو سمبال د یوې سالمې او اغیزمنې ټولنې رامنځ ته کول.

---

**ستراتیژیکي موخې**

1. د علمي، تحصیلي او څېړنیزو پروګرامونو وده او پراختیا.
2. په علمي او اداري چارو کې د شفافیت، همغږۍ، اغېزمن مدیریت او غوره رهبرۍ پیاوړتیا .
3. د ټولنې د اړتیاوو سره سم د تحصیلي نصاب تدوین، بیاکتنه او پراختیا.
4. د پوهنځي په ټولو چارو کې د کیفیت لوړاوي یوولس ګونو معیارونو پلي کول او څارنه.
5. په پوهنځی کې بریښنایې زده کړو او معلوماتي تکنالوژۍ ته وده او پراختیا ورکول.
6. د کمپیوټر ساینس پوهنځي د بنسټیزو تاسیساتو پراختیا، پیاوړتیا او معیاري کول .
7. د پوهنځی دبهبود او پرمختګ په موخه د اداری او علمي کادر غړو د ظرفیت او استعداد لوړاوي ته زمینه برابرول.
8. د ټولنې د اړتیاوو د رفع کولو پر بنا په پوهنځي کې د اړینو څانګو را منځته کول.
9. د غوره تحصیلي او تحقیقي خدمتونو د وړاندي کولو لپاره د متخصصواومسلکي کادرونو جذب او پالنه.
10. لوړو زده کړو ته لاسرسی، د کریډیت سیستم تطبیق او څارنه.
11. د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخیستنه او له بیلابیلو علمي او سکتوري ادارو سره تړون لیکونه او همکاري رامنځ ته کول.

## د وردګ پوهنتون د اوږد مهاله( ستراتیژیک )پلان د لسګونو لویو موخو په رڼا کې د کمپیوټر ساینس پوهنځی بنسټیزي موخې او پروګرامونه

**۱ - د علمي څېړنو، علمي تولید او نوښت پراختیا**

علمي څېړنې، د علم تولید او نوښت د لوړو زده کړو د بنسټیزو دندو له مهمو برخو څخه دي او د پوهنتونونو د علمي ودې، د ټولنې د ستونزو د حل او د هېواد د پرمختګ لپاره اساسي رول لري. د علمي څېړنو له لارې د نوو علمي موندنو، تخنیکي نوښتونو او عملي حل‌لارو د وړاندې کولو زمینه برابرېږي، چې د علمي بنسټونو اعتبار لوړوي او له سیمه ییزو او نړیوالو علمي مرکزونو سره د سیالۍ وړتیا پیاوړې کوي. بناء د کمپیوټر ساینس پوهنځی ژمن دی چې د ستراتیژیک پلان د تطبیق په موده کې د علمي څېړنو، علمي تولید او نوښت د ودې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړي:

1. د علمي څېړنو، علمي لیکنو او نوښت په برخه کې د علمي کادر غړو او محصلینو د ظرفیت لوړول .
2. د څېړنیزو پروژو د پلي کولو لپاره د مالي سرچینو او همکارو بنسټونو جلبول .
3. د استادانو او محصلینو لپاره د څېړنو، نوښت او علمي تولید مناسب چاپېریال او اسانتیاوې برابرول .
4. د څېړنیزې میتودولوژۍ، علمي لیکنې، معلوماتو تحلیل او مصنوعي ځیرکتیا (AI) اړوند روزنیزو ورکشاپونو او سیمینارونو جوړول .
5. د پوهنځي په کچه د څېړنو، علمي تولید او نوښت لپاره اغېزمن میکانېزم رامنځته کول .
6. د څېړنیزو لاسته راوړنو، علمي مقالو او نوښتونو خپرول او له اړوندو علمي او څېړنیزو بنسټونو سره شریکول .
7. د استادانو او محصلینو ګډې څېړنیزې پروژې تنظیمول او په کورنیو او نړیوالو علمي ژورنالونو او کنفرانسونو کې د هغوی د پایلو خپرول .
8. د سافټویر، مصنوعي ځیرکتیا، معلوماتي سیستمونو او نورو ټکنالوژیکو برخو کې د نوښتونو او علمي تولیداتو ملاتړ او هڅونه .
9. د علمي، څېړنیزو او نوښتګرو برنامو په موخه د علمي کادر غړو ګډون په ملي او نړیوالو کنفرانسونو، روزنیزو پروګرامونو او څېړنیزو فرصتونو کې.

**۱,۱ د علم تولید لپاره پروګرامونه:**

- په راتلونکو پنځو کلونو کې د Artificial Inteligence (AI) او Computer Engineering څانګو ایجاد
- په کال کې لږ تر لږه د وردیکا علمي مجلې لپاره څلور علمي مقالې اماده کول.

**۲,۱ د نوښت لپاره پروګرامونه:**

- د نوښت او تخنیکي پروژو د ودې لپاره د ملاتړ پروګرامونه رامنځته کول.
- د محصلینو او استادانو د نوښت، خلاقیت او عملي مهارتونو د ودې لپاره د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول.

**۲ - د اغیزمن ،شفاف مدیریتي او رهبری سیستم پیاوړتیا، د عوایدو زیاتوالی او د اداري فساد مخنیوی**

**۱,۲ رهبري**

د کمپیوټر ساینس پوهنځي اداري جوړښت د اغېزمنې رهبرۍ او مدیریت پر بنسټ ولاړ دی، چې په رأس کې یې د پوهنځي رئیس، تدریسي مرستیال/مدیر او اجرائیه مدیر مسؤلیت لري. همدارنګه پوهنځی د اړوندو څانګو له لارې خپل علمي او اداري فعالیتونه تنظیم او پرمخ وړي، چې د هرې څانګې چارې د څانګې د آمر له خوا مدیریت کېږي.

کمپیوټر ساینس پوهنځی د خپلو فعالیتونو د ښه تنظیم، همغږۍ او کیفیت لوړونې لپاره بېلابېلې علمي او اداري کمېټې لري، لکه ( د کیفیت لوړونې کمېټه، څېړنو کمېټه، نصاب کمېټه، ستراتیژیک پلان کمېټه، فرهنګي کمېټه، نظم او ډسپلین کمېټه، د شکایتونو اورېدو کمېټه او نورې اړوندې کمېټې) یادې کمېټې د مشخصو کاري لایحو له مخې فعالیت کوي او د پوهنځي د علمي او اداري چارو د ښه پرمختګ لپاره مسؤلیت لري.

د پوهنځي رهبري هڅه کوي چې د علمي او اداري فعالیتونو د اغېزمنتوب، روڼتیا او حساب ورکونې د پیاوړتیا لپاره دوامداره څارنه او ارزونه ترسره کړي. د پوهنځي رئیس، د څانګو آمرین او د کمېټو مسؤلین په ګډه هڅه کوي چې ټاکل شوي پلانونه او فعالیتونه په منظم ډول پلي او د اړتیا پر مهال لازم اصلاحات رامنځته کړي.

کمپیوټر ساینس پوهنځی خپلې ټولې علمي، اداري او مالي چارې د لوړو زده کړو وزارت د نافذه قوانینو، مقرراتو، پالیسیو او لایحو سره سم ترسره کوي او د شفافیت، حساب ورکونې او ښه مدیریت اصولو ته ژمن دی.

پوهنځی د کیفیت لوړونې د میکانیزمونو له لارې د خپلو علمي کادر غړو، اداري کارکوونکو او محصلینو فعالیتونه ارزوي، ترڅو د خدمتونو کیفیت لوړ او د پوهنځي علمي او اداري چارې لا اغېزمنې شي.

همدارنگه، کمپیوټر ساینس پوهنځی د عوایدو د زیاتوالي، د مالي سرچینو د پراختیا او د اداري فساد د مخنیوي په برخه کې د شفافو کړنلارو پلي کولو ته ژمن دی. پوهنځی هڅه کوي چې د مسلکي مدیریت، روڼتیا، حساب ورکونې او غوره رهبرۍ له لارې داسې اداري چاپېریال رامنځته کړي چې د علمي ودې، نوښت او ټولنې ته د غوره خدمت زمینه برابره کړي.

د کمپیوټر ساینس پوهنځي د اغېزمنې ادارې او رهبرۍ د پیاوړتیا په برخه کې لاندې کړنې ترسره کولای شي:

1. د علمي کادر غړو، اداري کارکوونکو او محصلینو د مسلکي ظرفیت لوړونې لپاره د دوامداره روزنیزو پروګرامونو تنظیمول .
2. له امارتي، خصوصي، علمي او تخنیکي ادارو سره د ښو اړیکو رامنځته کول او د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د همکاریو پراختیا .
3. د پوهنځي استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ د نافذه قوانینو، پالیسیو، اداري اصولو، مسلکي اخلاقو او امانتدارۍ د کلتور پیاوړتیا .
4. د ټولنې د معلوماتي ټکنالوژۍ اړوند ستونزو پېژندنه او د څېړنو او تخنیکي حل‌لارو له لارې د مناسبو وړاندیزونو وړاندې کول .
5. د پوهنځي د علمي، اداري او تخنیکي فعالیتونو د احتمالي ستونزو او ګواښونو پېژندنه او د مخنیوي لپاره د مناسبو میکانیزمونو رامنځته کول .
6. د اداري ځنډ، ناسم مدیریت، تبعیض او بې عدالتۍ د مخنیوي لپاره د شفافو او عادلانه کړنلارو پلي کول .
7. د استادانو، اداري کارکوونکو، محصلینو او مراجعینو شکایتونو ته پر وخت رسېدګي کول.
8. په علمي، اداري او مالي چارو کې د روڼتیا پیاوړتیا او د اداري فساد د مخنیوي لپاره د اغېزمنو کړنلارو پلي کول .
9. د علمي او اداري فعالیتونو په اړه د حساب ورکونې، مسؤلیت‌پذیرۍ او اغېزمن مدیریت فرهنګ پیاوړی کول.

**۲,۲ له اداري فساد سره مبارزه**

اداري فساد د هرې ادارې د پرمختګ، اغېزمنتوب او باور د کمزورتیا لامل ګرځي. د روڼتیا، حساب ورکونې او مسؤلیت‌پذیرۍ پیاوړتیا د یوې سالمې ادارې د رامنځته کېدو اساسي شرط دی. له همدې امله، د کمپیوټر ساینس پوهنځی ژمن دی چې د خپلو علمي، اداري او مالي چارو په ټولو برخو کې د شفافیت اصل پلي کړي او د هر ډول اداري فساد د مخنیوي لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.

د کمپیوټر ساینس پوهنځی هڅه کوي چې خپلې چارې د لوړو زده کړو وزارت د نافذه قوانینو، مقرراتو او پالیسیو له مخې تنظیم کړي او د عادلانه، روڼ او مسؤلانه مدیریت له لارې داسې اداري چاپېریال رامنځته کړي چې د فساد د رامنځته کېدو مخه ونیسي. پوهنځی ژمن دی چې د علمي کادر غړي، اداري کارکوونکي او محصلین د مسلکي اخلاقو،

امانتداری، عدالت او مسؤلیت‌پذیری په روحیه وروزي، ترڅو هغوی په راتلونکي کې د ټولنې په بېلابېلو برخو کې د روڼتیا او سالم مدیریت د پیاوړتیا لپاره اغېزمن رول ولوبوي.

### ۳،۲ په پوهنځي کې له اداري فساد سره د مبارزې د کمېټې پیاوړتیا

کمپیوټر ساینس پوهنځی د شفافیت، حساب ورکونې او سالمې ادارې د رامنځته کولو په موخه د اداري فساد سره د مبارزې کمېټه رامنځته کوي. یاده کمېټه د پوهنځي د علمي کادر غړو او اداري کارکوونکو له استازو څخه جوړه وي او د پوهنځي له رهبرۍ سره په همغږۍ د فساد د مخنیوي، پوهاوي او څارنې په برخه کې فعالیت کوي.

د کمېټې له مهمو مسؤلیتونو څخه د اداري فساد د مفهوم، لاملونو او مخنیوي په اړه د استادانو، کارکوونکو او محصلینو لپاره د پوهاوي پروګرامونه، علمي ناستې او روزنیز ورکشاپونه تنظیمول دي، ترڅو د روڼتیا، مسؤلیت‌پذیرۍ او مسلکي اخلاقو فرهنګ پیاوړی شي.

1. د امیرالمومنيْ حفظ الله، ریاست الوزرا او امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت، فرمانونه، احکامو او لارښوونو تطبیقول.
2. د پوهنځي د ټولو چارو څخه څارنه.
3. د مجازاتو او مکافاتو د اصل رایجول او پلي کول.
4. د هر ډول غیر قانوني کړنو مخنیوی کول.

محصلانو ته د تحصیل په دوران کې د اداري فساد د مخنیوي په اړه شرعي او قانوني معلومات ورکول

1. په ټولنه کي د اداري فساد د ریښنوکښلو په موخه د پوهنځی ټولو محصلانو ته د اسلامي روحیې سره سم روزنه ورکول.
2. د تدریس تر څنګ د وخت په نظر کي نیولو سره داداري فساد پر ضد د مبارزې په موخه د تدریس څخه د مخه د یو څو دقیقو له پاره اسلامي اصول بیانول او محصلانو ته ښه اسلامي روحیه ورکول.

د محصلانو د تدریسي بهیر د ارزوني او آزموینو څخه په جدي بڼه څارنه کول

1. د تدریسي بهیر او د استاد چلند له محصل سره د څانګي، پوهنځی او پوهنتون له خوا په پر له پسې توګه آرزول.
2. د آزموینو کمیته د پوهنځی په کچه فعاله ساتل.
3. د آزموینو د لایحې او طرزالعمل سره سم د آزموینو تنظیمول او اخیستل.
4. د آزموینو په پایلو باندي د محصلانو د نه قناعت په صورت کي په شفافه او عادلانه بڼه کړني ترسره کول .
5. د محصلانو له اسنادو او آزموینو څخه په جدي توګه څارنه اوکتنه ترسره کول

### 4.2 د پوهنځی د عايداتي سرچينو زياتول

هره اداره د خپلو علمي، اداري او پراختيايي فعاليتونو د اغېزمن ترسره کولو لپاره د دولتي بودجې ترڅنګ اضافي عايداتي سرچينو ته اړتيا لري. د عايداتي سرچينو پراختيا د دې سبب ګرځي چې اداره وکولای شي خپل فعاليتونه په ښه کيفيت ترسره کړي، پرمختيايي پروګرامونه پلي کړي او ټاکل شويو موخو ته په اغېزمن ډول ورسېږي.

کمپيوټر ساينس پوهنځی د خپلو علمي او تخنيکي ظرفيتونو څخه د ګټې اخيستنې له لارې هڅه کوي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې خپلې عايداتي سرچينې پراخې کړي. د دې موخې لپاره به د معلوماتي ټکنالوژۍ اړوند لنډمهاله روزنيز کورسونه، مسلکي پروګرامونه، تخنيکي خدمات، څېړنيزې پروژې او له اړوندو ادارو سره علمي او تخنيکي همکاريو ته وده ورکړي.

د دې پروګرامونو له لارې به پوهنځی وکولای شي د عايداتو کچه لوړه کړي، خپل علمي او تخنيکي فعاليتونه پياوړي کړي او د محصلينو او ټولنې اړتياوو ته غوره خدمات وړاندې کړي.

| اصلي موخې | فرعي موخې | تګلارې (ستراتيژيانې) |
|---|---|---|
| **د کمپيوټر ساينس پوهنځي د عايداتي سرچينو زياتول.** | د لنډمهاله مسلکي کورسونو، او علمي پروګرامونو پراختيا. | 1. د معلوماتي ټکنالوژۍ په بېلابېلو برخو کې د لنډمهاله روزنيزو پروګرامونو طرحه او تنظيمول .<br>2. د روزنيزو پروګرامونو لپاره د درسي موادو، نصاب او اړينو تخنيکي امکاناتو برابرول .<br>3. د هر پروګرام د لګښتونو او عايداتو ارزونه او د مناسب مالي پلان جوړول .<br>4. په ټولنه او اړوندو ادارو کې د پروګرامونو د معرفي کولو لپاره د بازار موندنې مناسب پلانونه جوړول. |

## ۵،۲- د ډیجیټل او مدیریتي سیستمونو پیاوړتیا

کمپیوټر ساینس پوهنځی د عصري معلوماتي ټکنالوژۍ د کارونې له لارې د خپلو علمي، اداري او مدیریتي چارو د اغېزمنتوب، چټکتیا او روڼتیا د زیاتوالي لپاره هڅه کوي. د ډیجیټلي سیستمونو پراختیا د پوهنځي د خدمتونو د کیفیت لوړولو، د معلوماتو د مدیریت ښه والي او د اداري پروسو د ساده کولو لپاره مهم رول لري.

د دې موخې لپاره لاندې کړنې ترسره کېږي:

- د برېښنايي زده کړو (E-learning) د پراختیا او عامولو لپاره د اړینو سیستمونو او برنامو طرحه او پلي کول .
- د کمپیوټر ساینس اړوندو څانګو د مسلکي او څېړنیزو پروژو، عملي فعالیتونو او نوښتګرو برنامو د پیاوړتیا لپاره لازم اقدامات ترسره کول .
- د پوهنځي د مدیریتي سیستم د پیاوړتیا لپاره د عصري معلوماتي ټکنالوژۍ او ډیجیټلي وسایلو اغېزمنه کارونه .
- د معلوماتي ټکنالوژۍ له لارې د پوهنځي اداري سیستمونه یو له بل سره نښلول او د کاغذي پروسو پر ځای د برېښنايي مدیریت سیستمونو پراختیا .
- د محصلینو، تدریسي او اداري معلوماتو د ښه مدیریت لپاره د HEMIS او نورو معلوماتي سیستمونو کارول او پراختیا .
- د ډیجیټلي سیستمونو د تطبیق، پرمختګ او اغېزمنتوب د ارزونې لپاره د نظارت او ارزونې کمېټې له خوا دوره یي ارزونې ترسره کول.

## ۶،۲ اکاډمیکه خپلواکي

اکاډمیکه خپلواکي د لوړو زده کړو بنسټونو له اساسي ارزښتونو څخه ده، چې د علمي ودې، نوښت، څېړنو او کیفیت لرونکو زده کړو لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کوي. د اکاډمیکې خپلواکۍ په شتون کې پوهنځي کولای شي د خپلو علمي پروګرامونو د پراختیا، د نصاب د ښه‌والي، د علمي کادر د ظرفیت لوړونې او د څېړنیزو فعالیتونو لپاره لنډمهاله او اوږدمهاله پلانونه ترتیب او پلي کړي.

د کمپیوټر ساینس پوهنځی اکاډمیکه خپلواکي د خپلو علمي فعالیتونو بنسټیز اصل ګڼي او هڅه کوي چې د علمي کادر غړو، محصلینو او اداري کارکوونکو لپاره داسې علمي چاپېریال رامنځته کړي، چې د علمي فکر، نوښت، څېړنو او مسلکي ودې زمینه پکې برابره وي. پوهنځی د نافذه قوانینو، مقرراتو او اکاډمیکو اصولو په چوکاټ کې د علمي ازادۍ، مسؤلیت‌پذیرۍ او کیفیت لوړونې ته ژمن دی.

د کمپیوټر ساینس پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې برخې لا پیاوړې کوي:

- اکاډمیکي خپلواکۍ ته ژمن پاته کېدل.
- د علمي کادر غړو او محصلینو لپاره د علمي، څېړنیزو او نوښتگرو فعالیتونو مناسب چاپېریال رامنځته کول .
- د لیسانس او راتلونکو تخصصي پروگرامونو پراختیا او د کیفیت لوړول .
- د انتقادي تفکر، نوښت، خلاقیت او علمي څېړنو ملاتړ .
- د سافټویر جوړونې، مصنوعي ځیرکتیا، معلوماتي سیستمونو او نورو تخصصي برخو لپاره د لابراتوارونو، تخنیکي تجهیزاتو او اړینو امکاناتو برابرول .
- د علمي سیمینارونو، کنفرانسونو، ورکشاپونو، وبینارونو او علمي بحثونو تنظیمول او د استادانو او محصلینو د گډون زمینه برابرول .
- د علمي څېړنو، نوښتونو او غوره علمي لاسته راوړنو هڅونه او ستاینه .
- د پوهنځي علمي چاپېریال د هر ډول سیاسي، قومي، سمتي او گوندي اغېزو څخه خوندي ساتل .
- د تدریس د کیفیت لوړولو لپاره استادانو ته د نویو تدریسي میتودونو، معلوماتي ټکنالوژۍ او عصري تدریسي وسایلو د کارونې زمینه برابرول .
- د پوهنځي د علمي او اداري چارو د ارزونې، پلان جوړونې او پرېکړه‌نیونې په بهیر کې د استادانو، اداري کارکوونکو او محصلینو د اغېزمن گډون زمینه برابرول.

## ۳. د ټولنې اړتیاوو او نړیوالو معیارونو سره سم د نصاب پراختیا او کیفیت ښه والی

د معلوماتي ټکنالوژۍ په ډگر کې چټک بدلونونه، نوې ټکنالوژۍ او د کار بازار اړتیاوې ایجابوي چې د کمپیوټر ساینس پوهنځي علمي نصابونه په دوامداره توگه بیاکتنه، اصلاح او معیاري شي. د نصاب پراختیا د علمي کیفیت د لوړولو، د محصلینو د مسلکي وړتیاوو د پیاوړتیا او د ټولنې اړتیاوو ته د ځواب ویلو لپاره یو مهم اصل گڼل کېږي.

کمپیوټر ساینس پوهنځی ژمن دی چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د خپلو علمي پروگرامونو نصابونه د هېواد اړتیاوو، د کار بازار غوښتنو او نړیوالو اکاډمیکو معیارونو سره سم بیاکتنه او پراختیا ورکړي، ترڅو د معلوماتي ټکنالوژۍ په بېلابېلو برخو کې مسلکي، نوښتگر او وړ کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي.

د کمپیوټر ساینس پوهنځی د خپلو اړوند علمي برنامو د مثبت بدلون او د شرکاو غوښتنو ته د ځواب ویلو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پوهنځي په کچه د نصاب کمېټې پیاوړتیا او د هغې د فعالیتونو اغېزمن کول .
2. د ټولو څانګو د نصاب، مفرداتو او درسي موادو دوامداره بیاکتنه او اصلاح .
3. د نصاب د پراختیا او اصلاح لپاره د نویو پالیسیو او کړنلارو ترتیب او پلي کول .
4. د علمي کادر غړو لپاره د نصاب د پراختیا، عصري تدریسي میتودونو او کیفیت لوړونې اړوند روزنیز پروګرامونه تنظیمول .
5. د نصاب د بیاکتنې په بهیر کې د معلوماتي ټکنالوژۍ متخصصینو، کارګمارونکو او اړوندو ادارو سره مشورې کول .
6. د هېواد له نورو پوهنتونونو او علمي بنسټونو سره د نصاب د اصلاح او پراختیا په برخه کې همکاري .
7. د کلسټري غونډو او د نصاب د بیاکتنې پروګرامونو کې فعال ګډون .
8. د معتبرو نړیوالو پوهنتونونو د نویو علمي سرچینو، درسي کتابونو او مراجعو څخه ګټه اخیستل .
9. د ټاکل شوي نصاب له مخې د معیاري درسي موادو او عملي لارښودونو چمتو کول .
10. د نصاب، تدریسي میتودونو او درسي موادو کلنۍ ارزونه د استادانو، محصلینو او کیفیت لوړونې کمېټې په همکارۍ ترسره کول .
11. د محصل‌محوره زده‌کړې (SCL) ، د پایلو پر بنسټ زده‌کړې (OBE) او برېښنایي زده‌کړې (E-learning) میتودونو پلي کول .
12. د عملي او لابراتواري درسونو لپاره د تخنیکي تجهیزاتو، سافټویرونو او مناسبې زده‌کړیزې فضا برابرول .
13. د محصلینو لپاره د انټرنشیپ، عملي زده‌کړو او صنعتي اړیکو پروګرامونه تنظیمول .
14. د نصاب د اغېزمن تطبیق د ارزونې لپاره د څانګو او اړوندو کمېټو راپورونه راټولول او ارزول .
15. د ټولنې د اړتیاوو له مخې د نصاب دوامداره بیاکتنه او اصلاح .
16. د علمي کادر غړو د تألیف، ژباړې او علمي درسي موادو د چمتو کولو ملاتړ .
17. د علمي کادر غړو لپاره د هېواد دننه او بهر د مسلکي او تخصصي روزنیزو پروګرامونو زمینه برابرول .
18. د مصنوعي ځیرکتیا، سایبري امنیت، معلوماتي سیستمونو، ډېټا ساینس او نورو نوو ټکنالوژیو د پرمختګونو سره سم د نصاب دوامداره تازه کول .
19. د پوهنځي رئیس، د څانګو آمرین او د نصاب کمېټه د درسي موادو د کیفیت او د نصاب د پلي کېدو څخه دوامداره څارنه ترسره کوي.

## ۴. په تحصیلي نظام کې معلوماتي ټکنالوژۍ ته وده او پراختیا ورکول

د معلوماتي ټکنالوژۍ چټک پرمختګ د لوړو زده کړو په نظام کې د تدریس، څېړنو او اداري چارو د اغېزمنتیا لپاره نوې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. د کمپیوټر ساینس پوهنځی د عصري ټکنالوژۍ د اغېزمنې کارونې له لارې هڅه کوي چې د تدریس کیفیت لوړ، علمي او څېړنیز فعالیتونه پیاوړي او د محصلینو لپاره د برېښنایي زده‌کړو مناسب چاپېریال برابر کړي.

د همدې موخې د تحقق لپاره پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د برېښنایي زده‌کړو (E-learning) کمېټې پیاوړتیا او د هغې د فعالیتونو پراختیا .
2. د علمي کادر غړو لپاره د برېښنایي زده‌کړو، ډیجیټلي تدریس او عصري تعلیمي ټکنالوژیو په اړه د روزنیزو ورکشاپونو تنظیمول .
3. په ټولو څانګو کې د برېښنایي زده‌کړو او ګډو (Blended Learning) تدریسي میتودونو پلي کول .
4. د تدریسي ټولګیو او لابراتوارونو د پروجکټور، چټک انټرنیټ، کمپیوټرونو او نورو اړینو ټکنالوژیکي وسایلو په وسیله سمبالول .
5. د برېښنایي زده‌کړو سیستمونو او آنلاین تدریسي پلیټفارمونو پراختیا او اغېزمنه کارونه .
6. د برېښنایي زده‌کړو د تطبیق لپاره د مناسبو پالیسیو او طرزالعملونو ترتیب او پلي کول .
7. د محصلینو لپاره د برېښنایي زده‌کړو، معلوماتي سیستمونو او ډیجیټلي خدماتو په اړه د پوهاوي پروګرامونو تنظیمول .
8. د پوهنځي په کچه د انټرنیټي شبکې (Wi-Fi) پراختیا او د هغې د کیفیت لوړول .
9. د پوهنځي ټولې علمي او اداري څانګې د معلوماتي ټکنالوژۍ او برېښنایي سیستمونو له لارې سره نښلول .
10. د محصلینو مونوګرافونه، څېړنیزې پروژې او علمي اسناد په ډیجیټلي بڼه تنظیم، ثبت او آرشیف کول .
11. د برېښنایي تدریس، ویبینارونو او علمي محتوا د تولید لپاره د معیاري ډیجیټلي سټوډیو رامنځته کول.

## ۵. د زیربناوو پراختیا، پیاوړتیا او تجهیزول

### ۱,۵ زیربناوې

د کمپیوټر ساینس پوهنځي د علمي، څېړنیزو او عملي فعالیتونو د اغېزمن پرمختګ لپاره د معیاري زېربناوو، عصري لابراتوارونو او مناسبو تدریسي اسانتیاوو شتون بنسټیز اهمیت لري. د معلوماتي ټکنالوژۍ د چټک پرمختګ له امله اړینه ده چې پوهنځی د تدریس، څېړنې او عملي زده‌کړو لپاره معیاري ودانۍ، مجهز لابراتوارونه او پرمختللي تخنیکي امکانات ولري، ترڅو د استادانو، محصلینو او اداري کارکوونکو لپاره مناسب علمي او کاري چاپېریال رامنځته شي.

اوس مهال کمپیوټر ساینس پوهنځی د معیاري تدریسي ودانۍ، مجهزو لابراتوارونو او ځینو بنسټیزو اسانتیاوو له کمښت سره مخ دی. له همدې امله، د پوهنځي د پراختیا او د علمي کیفیت د لوړولو لپاره اړینه ده چې د پوهنتون د ماسټر پلان او شته امکاناتو په چوکاټ کې په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې زېربنایي پروژې پلې شي:

1. د کمپیوټر ساینس پوهنځي لپاره د معیاري او عصري ودانۍ جوړول چې د تدریس، څېړنو، لابراتوارونو او اداري چارو لپاره ټولې اړینې اسانتیاوې ولري .
2. د تدریسي ټولګیو او کمپیوټر لابراتوارونو تجهیزول د عصري کمپیوټرونو، پروجکټورونو، سمارټ سکرینونو، چټک انټرنیټ، شبکیزو تجهیزاتو او نورو اړینو وسایلو په وسیله .
3. د ازموینو لپاره د معیاري امتحاناتو تالار (Examination Hall) جوړول او تجهیزول .
4. د علمي غونډو، سیمینارونو، کنفرانسونو او ورکشاپونو لپاره د مجهز کنفرانس هال جوړول .
5. د معلوماتي ټکنالوژۍ او کمپیوټر ساینس اړوند د معیاري کتابتون او ډیجیټلي کتابتون رامنځته کول او د معتبرو علمي منابعو برابرول .
6. د پوهنځي اداري دفترونه د عصري معلوماتي ټکنالوژۍ، کمپیوټرونو، شبکو او نورو اړینو تجهیزاتو په وسیله سمبالول .
7. د تخصصي لابراتوارونو لکه د(Cisco, IoT) ، (Robotics Lab) رامنځته کول او پیاوړي کول.

## ٦. د علمي کادر غړو او اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړول

د کمپیوټر ساینس پوهنځي اساسي موخه د معلوماتي ټکنالوژۍ په بېلابېلو برخو کې د مسلکي، نوښتگر او وړ بشري ځواک روزنه ده. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره د علمي کادر غړو، اداري کارکوونکو، فاضلانو او محصلینو د علمي او مسلکي ظرفیت لوړول اړین گڼل کېږي. له همدې امله پوهنځی په پام کې لري چې د علمي، څېړنیزو او مسلکي پروگرامونو له لارې د خپلو بشري سرچینو ظرفیتونه پیاوړي کړي او د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ویونکي متخصصین وروزي.

### ١,٦ د علمي کادر په برخه کې د وړ او مسلکي استادانو زیاتول

کمپیوټر ساینس پوهنځی د لوړو زده کړو وزارت د نافذه قوانینو او مقرراتو په رڼا کې هڅه کوي چې د علمي او مسلکي وړتیاوو لرونکي استادان جذب کړي، ترڅو د تدریس، څېړنو او علمي فعالیتونو کیفیت لوړ شي. د دې موخې لپاره لاندې ټکي په پام کې نیول کېږي:

1. د لوړو زده کړو وزارت د تقرر اصولو سره سم د علمي او مسلکي وړتیا لرونکو استادانو جذب .
2. د علمي کادر غړو په استخدام کې تخصص، مسلکي تجربه، لوړ اخلاقي معیارونه او مسؤلیت‌پذیري په پام کې نیول .
3. د تقرر پر مهال د دوکتورا او ماسټرۍ لرونکو نوماندانو ته لومړیتوب ورکول .
4. د استخدام په بهیر کې د شفافیت، عدالت او وړتیا اصل مراعاتول .
5. د موجوده علمي کادر غړو د علمي او مسلکي ظرفیت دوامداره لوړول.

### ٢,٦ د علمي کادر او اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړول

د کمپیوټر ساینس پوهنځي د علمي او اداري پرمختگ لپاره د علمي کادر غړو او اداري کارکوونکو ظرفیت لوړول مهم اصل گڼل کېږي. پوهنځی په پام کې لري چې په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي:

1. د علمي کادر غړو ته د ماسټرۍ او دوکتورا د زده کړو زمینه برابرول .
2. د استادانو او اداري کارکوونکو لپاره د اړتیاوو پر بنسټ مسلکي روزنیز پروگرامونه او ورکشاپونه تنظیمول .
3. د تدریس د عصري میتودونو، معلوماتي ټکنالوژۍ او نوې ټکنالوژۍ په برخه کې د استادانو روزل .
4. د علمي ظرفیت لوړولو په موخه د استادانو لپاره علمي سفرونه او د تجربو د تبادلې پروگرامونه برابرول .
5. د اداري کارکوونکو لپاره د مدیریتي او معلوماتي سیسټمونو اړوند روزنیز پروگرامونه تنظیمول .
6. اداري کارکونکي د عصري اداري، مدیریتي او ډیجیټلي مهارتونو په وسیله سمبالول .
7. د علمي کادر غړي د څېړنې، پروگرام جوړونې، مصنوعي ځیرکتیا، سایبري امنیت او نورو تخصصي برخو کې د نوې ټکنالوژۍ له مهارتونو سره بلدول .

8. د ستراتیژیک پلان د پلي کېدو او کیفیت لوړوني په اړه د اداري پرسونل روزل .
9. د علمي کادر غړو لپاره د انګلیسي او نورو نړیوالو ژبو د زده کړې اسانتیاوې برابرول .
10. د برېښنایي زده کړو، معلوماتي ټکنالوژۍ او کیفیت لوړونې په اړه د سیمینارونو او ورکشاپونو تنظیمول .
11. د علمي کادر غړو لپاره د علمي، څېړنیزو او نوښتګرو پروژو د عملي کولو لپاره زمینه برابرول.

## ۳,٦ د علمي کادر او اداري غړو زیاتوالی

د مسلکي او وړ علمي کادر غړو شتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي د علمي، څېړنیزو او تدریسي فعالیتونو د کیفیت د لوړولو اساسي شرط ګڼل کېږي. دا مهال کمپیوټر ساینس پوهنځی **۹ تنه علمي کادر غړي** لري، چې د پوهنځي علمي او تدریسي چارې پرمخ وړي. د محصلینو د شمېر زیاتوالي، د نویو علمي پروګرامونو د پراختیا او د معلوماتي ټکنالوژۍ په بېلابېلو تخصصي برخو کې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د علمي کادر غړو زیاتوالی یو مهم ضرورت دی.

له همدې امله، کمپیوټر ساینس پوهنځی په پام کې لري چې د راتلونکو **پنځو کلونو** په موده کې، د لوړو زده کړو وزارت د نافذه اصولو او تشکیلاتو له مخې، د وردګ پوهنتون د ریاست په همکارۍ **۱۲ تنه نوي علمي کادر غړي** استخدام کړي، ترڅو د تدریس، علمي څېړنو، نوښت، د نویو څانګو د فعالولو او د پوهنځي د پراختیا لپاره لازم بشري ځواک برابر او د علمي خدمتونو کیفیت لا لوړ شي.

جدول (۱) د اوسني تشکیل پراختیا

| ګڼه | کلونه | ۱۴۰۵ | ۱۴۰٦ | ۱۴۰۷ | ۱۴۰۸ | ۱۴۰۹ | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | استادان | ۹ | ۱۲ | ۱۸ | ۱۸ | ۲۴ | په ۱۴۰۹ کال د څلورو څانګو په درلودلو سره ۲۴ تنه استادان |
| ۲ | اداري کارکوونکي | ۲ | ۲ | ۳ | ۳ | ۴ | |

## ۴،٦ د استادانو او اداري کارکوونکو ظرفیت لوړونه

د ظرفیت د لوړاوي په برخه کې باید استادان د ماستري پروګرامونو ته واستول شي، په همدې اساس سره باید په راتلونکو پنځو کلونو کې د پوهنځی لږ تر لږه ۱۰ تنه استادان د ماستري پروګرام ته واستول شي.

لیسانس استادان د ماستری برنامو ته لیږل

| اوسنی تشکیل | | کال | | | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لیسانس | ماستر | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | ۱۴۰۸ | ۱۴۰۹ | ماستری ته د استادانو لیږل په راتلونکي پنځو کلنو کې |
| ۷ | ۲ | ۳ | ۲ | ۲ | ۳ | ۰ | ۱۰ |

ماستر استادان د دوکترا برنامو ته لیږل

| اوسنی تشکیل | | کال | | | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ماستر | دوکتور | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | ۱۴۰۸ | ۱۴۰۹ | دوکترا ته د استادانو لیږل په راتلونکي پنځو کلنو کې |
| ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ۱ | ۳ |

## ۷. له علمي او اکاډمیکو بنسټونو سره د اړیکو پیاوړتیا

د علمي او اکاډمیکو بنسټونو سره د همکاریو پراختیا د پوهې د تبادلې، د علمي ظرفیت لوړولو، د ګډو څېړنیزو پروژو د پلي کولو او د عصري ټکنالوژۍ د انتقال لپاره مهم ارزښت لري. کمپیوټر ساینس پوهنځی هڅه کوي چې د وردګ پوهنتون د پالیسۍ او د لوړو زده کړو وزارت د اصولو په چوکاټ کې له کورنیو او بهرنیو پوهنتونونو، څېړنیزو مرکزونو، معلوماتي ټکنالوژۍ اړوندو ادارو او اکاډمیکو بنسټونو سره خپلې علمي اړیکې پراخې او پیاوړې کړي، ترڅو د پوهنځي علمي، څېړنیز او تخنیکي فعالیتونه لا اغېزمن شي.

کمپیوټر ساینس پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې د علمي همکاریو د پراختیا لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د علمي او اکاډمیکو همکاریو او اړیکو د پراختیا لپاره د پوهنځي په کچه د ځانګړې کمېټې پیاوړتیا .
2. په کمېټه کې د تجربه لرونکو، ژمنو او مسلکي علمي کادر غړو ټاکل .
3. د علمي همکاریو، ګډو څېړنو او اکاډمیکو اړیکو د پراختیا لپاره د مناسبې پالیسۍ او کاري پلان ترتیب .
4. د کمېټې د فعالیتونو ملاتړ او د اړینو امکاناتو برابرول .
5. له کورنیو پوهنتونونو او څېړنیزو بنسټونو سره د علمي تفاهم‌لیکونو او همکاریو پراختیا .
6. له معلوماتي ټکنالوژۍ، مخابراتو او سافټویر اړوندو امارتي او خصوصي ادارو سره د علمي او تخنیکي همکاریو رامنځته کول .
7. له نړیوالو پوهنتونونو، اکاډمیکو بنسټونو او څېړنیزو مرکزونو سره د ګډو علمي، څېړنیزو او روزنیزو پروګرامونو د پلي کولو لپاره د همکاریو پراختیا .
8. د استادانو او محصلینو لپاره د علمي تبادلې، ګډو سیمینارونو، کنفرانسونو، ورکشاپونو او څېړنیزو پروژو د ګډون فرصتونه برابرول.

## ۱,۷ د مرستو جلبول

په اوسني عصر کې د علمي او اکاډمیکو بنسټونو ترمنځ همکاري د پرمختګ، د ظرفیت لوړونې، د تجربو د تبادلې او د علمي فعالیتونو د پیاوړتیا لپاره یو اساسي اصل ګڼل کېږي. کمپیوټر ساینس پوهنځی هم د خپلو علمي، څېړنیزو او اکاډمیکو موخو د لا ښه تحقق لپاره د کورنیو او بهرنیو علمي او اکاډمیکو بنسټونو له همکاریو او ملاتړ څخه ګټه اخیستل اړین بولي. د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره به پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کړي:

1. د علمي همکاریو، اړیکو او مرستو د جلب کمېټې پیاوړتیا او پراختیا .
2. له کورنیو او بهرنیو پوهنتونونو، علمي او اکاډمیکو بنسټونو سره د تفاهم‌لیکونو او علمي همکاریو پراختیا .
3. د اړیکو او همکاریو د لا اغېزمنتیا لپاره د اړوندو پلانونو، پالیسۍ او کاري میکانېزمونو ترتیب او پلي کول .
4. د رامنځته شویو همکاریو، علمي تفاهم‌لیکونو او ګډو پروګرامونو څخه د پوهنځي د علمي، څېړنیز او اداري پرمختګ لپاره اغېزمنه ګټه اخیستل.

## ۲,۷ په ټولنه کې ونډه اخیستنه

د پوهنتونونو او علمي نهادونو اساسي موخه دا ده چې د خپل اغېزمن ماموریت له لارې د ټولنې، هېواد او نړۍ د ستونزو په پېژندلو او حل کې فعاله ونډه واخلي او د علمي څېړنو، نوښتونو او عملي برنامو له لارې د پرمختګ زمینه برابره کړي. کمپیوټر ساینس پوهنځی هم د خپل لیدلوري او ماموریت پر بنسټ هڅه کوي چې د خپلو علمي کادر غړو او محصلینو د څېړنیزو فعالیتونو پایلې او موندنې له اړوندو دولتي، خصوصي او علمي ادارو سره شریکې کړي، ترڅو د معلوماتي ټکنالوژۍ له لارې د ټولنې شته ستونزې وپېژندل شي او د حل لپاره یې مناسبې لارې چارې وړاندې شي.

د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره د کمپیوټر ساینس پوهنځی علمي کنفرانسونه، سیمینارونه، ورکشاپونه او څېړنیزې ناستې جوړوي، چې پکې اړوندې ادارې، علمي بنسټونه او د خصوصي سکتور استازي ګډون وکړي او د استادانو او محصلینو څېړنیزې پایلې، نوښتګرې طرحې او عملي حل لارې ورسره شریکې شي. همدارنګه پوهنځی هڅه کوي چې د ټولنې په علمي، تخنیکي او پرمختیایي فعالیتونو کې فعاله ونډه واخلي.

د دې موخې لپاره لاندې کړنې ترسره کېږي:

- د علمي څېړنو پایلې او تخنیکي موندنې له اړوندو ادارو او بنسټونو سره شریکول .
- د ټولنې د اړتیاوو او د معلوماتي ټکنالوژۍ د پرمختګونو له مخې د نصاب بیاکتنه او سمون .
- د محصلینو لپاره د ټولنیزو، څېړنیزو او تخنیکي فعالیتونو په پروګرامونو کې د ګډون زمینه برابرول .
- د ټولنې د ستونزو د حل لپاره د معلوماتي ټکنالوژۍ پر بنسټ د نوښتګرو حل لارو رامنځته کول.

## ۸. د تدریس او زده کړې کیفیت لوړول او د کیفیت تضمین پیاوړتیا

د لوړو زده کړو په نظام کې د تدریس او زده کړې کیفیت د علمي پرمختګ، مسلکي بشري ځواک د روزنې او د تحصیلي بنسټونو د اعتبار له مهمو معیارونو څخه ګڼل کېږي. کمپیوټر ساینس پوهنځی د دې لپاره چې محصلینو ته معیاري، عصري او د ټولنې اړتیاوو سره سم زده‌کړیز خدمات وړاندې کړي، هڅه کوي د تدریسي بهیر کیفیت لوړ، د زده‌کړې اغېزمنتیا زیاته او د کیفیت تضمین میکانیزمونه پیاوړي کړي.

کمپیوټر ساینس پوهنځی د خپل لیدلوري او ماموریت پر بنسټ هڅه کوي چې د تدریس په برخه کې له نوو علمي میتودونو، معلوماتي ټکنالوژۍ، عملي زده‌کړو او محصل‌محوره تدریسي لارو چارو څخه ګټه واخلي. همدارنګه د کیفیت د دوامدار لوړوالي لپاره د تدریسي پروسې، نصاب، علمي کادر غړو فعالیتونو او محصلینو د زده‌کړې پایلو منظم ارزونه ترسره کوي، ترڅو د ستونزو د حل او د لا ښه والي لپاره لازم اقدامات ترسره شي.

د دې موخې د اغېزمن تطبيق لپاره پوهنځی لاندې کړنې ترسره کوي:

- د کيفيت لوړونې کمېټې فعال ساتل او د هغې د فعاليتونو پراختيا .
- د تدريسي بهير، نصاب او زده‌کړيزو فعاليتونو دوامداره ارزونه او څارنه .
- د علمي کادر غړو لپاره د تدريس د عصري ميتودونو او نوې ټکنالوژۍ په برخه کې روزنيز پروګرامونه تنظيمول .
- د محصل‌محوره زده‌کړې (SCL) ، پايلو پر بنسټ زده‌کړې (OBE) او برېښنايي زده‌کړو پراختيا .
- د درسي موادو، مفرداتو او تدريسي سرچينو منظم بياکتنه او معياري کول .
- د محصلينو د نظرياتو، وړانديزونو او شکايتونو د راټولولو او ارزونې لپاره اغېزمن ميکانيزم رامنځته کول .
- د ازموينو، نمرې ورکولو او ارزونې بهير شفاف او عادلانه کول .
- د عملي زده‌کړو، لابراتواري فعاليتونو او مسلکي تمرينونو د کيفيت لوړول .
- د علمي کادر غړو د څېړنيزو فعاليتونو او علمي توليد ملاتړ او پراختيا .
- د کيفيت تضمين اړوند معيارونو او د لوړو زده کړو وزارت د لارښوونو سره سم د پوهنځي د چارو تنظيمول.

## ۹. د علمي او مسلکي کادرونو روزنه، پياوړتيا او وده

علمي او مسلکي کادرونه د لوړو زده کړو د نظام د کيفيت، پرمختګ او د علمي موخو د تحقق اساسي بنسټ جوړوي. د علمي کادرونو پياوړتيا او مسلکي وده د دې سبب کېږي چې تحصيلي بنسټونه وکولای شي د ټولنې اړتياوو سره سم وړ، متخصص او نوښتګر بشري ځواک وروزي. کمپيوټر ساينس پوهنځی د معياري تدريس، علمي څېړنو او د معلوماتي ټکنالوژۍ د پرمختګونو د تعقيب په موخه ژمن دی چې د خپلو علمي کادر غړو ظرفيتونه لوړ او د هغوی مسلکي وړتياوې پياوړې کړي.

کمپيوټر ساينس پوهنځی اوس مهال د علمي کادر له اړخه د اړتيا وړ استادانو په شتون سره خپلې علمي او تدريسي چارې پرمخ وړي، خو د معلوماتي ټکنالوژۍ د چټک پرمختګ، د محصلينو د شمېر زياتوالي او د تخصصي برخو د پراختيا له امله هڅه کوي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د وړ او مسلکي علمي کادرونو د جذب، روزنې او ودې لپاره لازم اقدامات ترسره کړي، ترڅو د تدريس، څېړنې او نوښت په برخو کې لا ډېر پرمختګ رامنځته شي.

د علمي او مسلکي کادرونو د پياوړتيا لپاره کمپيوټر ساينس پوهنځی لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د علمي کادر غړو لپاره د تخصصي او مسلکي روزنيزو پروګرامونو برابرول .
2. د استادانو د لوړو زده کړو (ماسترۍ او دوکتورا) د دوام لپاره د اسانتياوو برابرول .

3. د معلوماتي ټکنالوژۍ د نوو پرمختګونو او عصري تدريسي ميتودونو په برخه کې د استادانو ظرفيت لوړول .
4. د علمي څېړنو، علمي مقالو او نوښتګرو پروژو په ترسره کولو کې د استادانو ملاتړ کول .
5. علمي کنفرانسونو، سيمينارونو او تخصصي ورکشاپونو ته د استادانو معرفي کول .
6. د اړتيا له مخې د وړ او متخصصو علمي کادرونو جذب او د پوهنځي د علمي ځواک پياوړتيا .
7. د استادانو د تدريسي او علمي فعاليتونو ارزونه او د مسلکي پرمختګ لپاره د اړتياوو تشخيص .
8. د استادانو او محصلينو ترمنځ د ګډو څېړنيزو او تخنيکي فعاليتونو ملاتړ او پراختيا.

**د راتلونکو پنځه کلونو لپاره د کمپيوټر ساينس پوهنځي د محصلينو احصائيه**

| ګڼه | پوهنځي | اوسنی حالت | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | ۱۴۰۸ | ۱۴۰۹ | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کمپيوټر ساينس | ۳۷۳ | ۴۷۳ | ۴۹۳ | ۵۴۳ | ۵۵۵ | ٦۰۵ | |

## ۱,۹ د کريډيټ سيستم پياوړتيا او پلي کول

په نړيواله کچه پوهنتونونه د کريډيټ سيستم له لارې خپل تحصيلي پروګرامونه تنظيموي، چې په پايله کې محصلينو ته د زده کړو د بهير د ښه مديريت، انعطاف او د نظري زده کړو ترڅنګ د عملي زده کړو د ترلاسه کولو زمينه برابريږي. کمپيوټر ساينس پوهنځی هم د کريډيټ سيستم د لا اغېزمنتيا، معياري پلي کېدو او د تحصيلي پروګرامونو د کيفيت لوړولو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د علمي کادر غړو لپاره د کريډيټ سيستم د اصولو او تطبيق په اړه د روزنيزو ورکشاپونو برابرول .
2. محصلينو ته د کريډيټ سيستم، درسي واحدونو او د زده کړو د بهير په اړه لازم معلومات ورکول .
3. په څانګو کې د کريډيټ سيستم د تطبيق، څارنې او ارزونې بهير پياوړی کول .
4. تدريسي او اداري مسؤلينو ته د کريډيټ سيستم د مديريت او عملي کولو په برخه کې لازم پوهاوی ورکول .
5. د پايلو پر بنسټ زده کړو (OBE) له اصولو سره سم د کريډيټ سيستم د موخو ترلاسه کول .
6. د محصل‌محورې زده کړې ته وده ورکول.

## ۲,۹ د محصلينو لپاره د خدماتو او اسانتياوو پياوړتيا

7. کمپيوټر ساينس پوهنځی هڅه کوي چې د خپلو علمي، روزنيزو او خدماتي فعاليتونو له لارې محصلينو ته معياري او اغېزمن خدمات وړاندې کړي، ترڅو هغوی وکولای شي په يوه مناسب علمي چاپېريال کې خپلې زده کړې ترسره کړي. پوهنځی غواړي د محصلينو د رضايت د کچې لوړولو، د زده کړو د کيفيت ښه والي او د مسلکي وړتياوو د پراختيا لپاره لازمې اسانتياوې برابرې کړي.

کمپیوټر ساینس پوهنځی د محصلینو د خدمتونو او اسانتیاوو د پیاوړتیا په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. محصلینو ته د علمي سفرونو د ترسره کولو زمینه برابرول .
2. د محصلینو لپاره د سپورتي، فرهنګي او ټولنیزو فعالیتونو د ترسره کولو اسانتیاوې برابرول .
3. د پوهنځي د وېبپاڼې او برېښنایي سرچینو له لارې محصلینو ته د اړینو معلوماتو وړاندې کول .
4. د محصلینو وړاندیزونو، ستونزو او شکایتونو ته د رسېدنې اغېزمن میکانیزم رامنځته کول .
5. د عملي زده کړو، انټرنشیپ او مسلکي تجربو د ترلاسه کولو لپاره له اړوندو دولتي او خصوصي تخنیکي ادارو سره د همکاریو پراختیا .
6. د محصلینو د علمي او څېړنیز ظرفیت لوړولو لپاره د کتابتون، ډیجیټلي سرچینو او علمي موادو اسانتیاوې برابرول .
7. نویو شامل شوو محصلینو ته د پوهنتون، پوهنځي او تحصیلي پروسې د پېژندنې په موخه د لارښوونې پروګرامونه تنظیمول .
8. په ټولنه کې د معلوماتي ټکنالوژۍ د پوهاوي او خدمتونو لپاره د محصلینو د ونډې اخیستنې زمینه برابرول .
9. د محصلینو ترمنځ د علمي، تخنیکي او نوښتګرو سیالیو د پروګرامونو تنظیمول .
10. د محصلینو د فکري، ټولنیز او جسمي ودې لپاره د فرهنګي او ورزشي فعالیتونو ملاتړ کول.

## ۱۰. د علمي، اداري او مالي چارو د شفافیت او اغېزمن مدیریت پیاوړتیا

شفافیت، حساب ورکونه او اغېزمن مدیریت د علمي او تحصیلي بنسټونو د بریالیتوب او پرمختګ له اساسي معیارونو څخه ګڼل کېږي. د علمي، اداري او مالي چارو منظم مدیریت د دې سبب کېږي چې یو تحصیلي بنسټ خپلې چارې په اغېزمنه، عادلانه او مسؤلانه توګه ترسره او ټاکل شوو موخو ته ورسېږي. کمپیوټر ساینس پوهنځی ژمن دی چې د خپلو علمي، اداري او مالي فعالیتونو په ټولو برخو کې د شفافیت، همغږۍ او حساب ورکونې اصول پلي کړي.

کمپیوټر ساینس پوهنځی هڅه کوي چې د خپلو چارو د ښه مدیریت، د منابعو د اغېزمنې کارونې او د اداري پروسو د ساده کولو لپاره له عصري مدیریتي میتودونو او معلوماتي ټکنالوژۍ څخه ګټه واخلي. همدارنګه د پوهنځي د علمي او اداري فعالیتونو د کیفیت د لوړولو لپاره به د پلان جوړونې، څارنې، ارزونې او راپور ورکونې بهیرونه لا پیاوړي کړي.

د دې موخې د تحقق لپاره کمپیوټر ساینس پوهنځی لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د علمي، اداري او مالي چارو د مدیریت لپاره د شفافو او اغېزمنو میکانیزمونو رامنځته کول .
2. د پوهنځي د ټولو فعالیتونو په برخه کې د حساب ورکونې او مسؤلیت منلو فرهنګ پیاوړی کول .
3. د اداري پروسو د چټکتیا او اسانتیا لپاره د برېښنایي مدیریتي سیستمونو کارول .

4. د علمي او اداري پلانونو د تطبیق لپاره منظم نظارت او ارزونه ترسره کول .
5. د مالي منابعو د اغېزمنې او اصولي کارونې لپاره د روڼ مدیریت تګلارې پلي کول .
6. د عوایدو د زیاتوالي او د موجوده امکاناتو د ښه مدیریت لپاره مناسبې لارې چارې رامنځته کول .
7. د اداري فساد د مخنیوي، د روڼتیا د پیاوړتیا او د نافذه اصولو د تطبیق لپاره لازم اقدامات ترسره کول .
8. د پوهنځي د علمي، اداري او مالي فعالیتونو په اړه د اړوندو ادارو سره منظم راپوروونه شریکول .
9. د استادانو، کارکوونکو او محصلینو د وړاندیزونو او شکایتونو د اورېدو او ارزونې لپاره اغېزمن میکانیزم پیاوړی کول.

## دريم څپرکی

### د محيطي عواملو تحليل (SWOTAnalysis)

ستراتېژيک پلان د کمپيوټر ساينس پوهنځي د ستراتېژيکو موخو، لومړيتوبونو او پرمختيايي برنامو د ټاکلو بنسټ جوړوي او د همدې موخو د ترلاسه کولو لپاره اړوند مسير، تګلارې او عملي کړنې مشخصوي. د ټاکل شوو موخو ترلاسه کول تر هغه وخته ممکن نه دي، تر څو پوهنځی خپلې پياوړتياوې، کمزورۍ، فرصتونه او ګواښونه په سمه توګه ونه پېژني او د هغو پر اغېزو او لاملونو ژوره ارزونه ترسره نه کړي.

د همدې موخې لپاره کمپيوټر ساينس پوهنځی اړتيا لري چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره خپل علمي، اداري او تخنيکي وضعيت په هر اړخيز ډول وارزوي، خپل موجود امکانات او سرچينې تحليل کړي او د راتلونکو اړتياوو او پرمختګونو لپاره اغېزمن او عملي پلان ترتيب کړي. د پوهنځي داخلي او بهرني چاپېريالي عوامل د ستراتېژيک پلان په برياليي تطبيق کې مهم رول لري او د پوهنځي پر علمي، اداري او څېړنيزو فعاليتونو مستقيم اغېز کوي.

کمپيوټر ساينس پوهنځي د خپل اوسني وضعيت، علمي ظرفيتونو، شته امکاناتو او چاپېريالي شرايطو هر اړخيز تحليل ترسره کړی او د دې تحليل د پايلو پر بنسټ يې د وردګ پوهنتون د ستراتېژيکو لومړيتوبونو او د لوړو زده کړو وزارت د پاليسۍ سره سم خپل اوږدمهاله (ستراتېژيک) پلان ترتيب کړی دی.

د چاپېريالي عواملو د تحليل په برخه کې لومړی د پوهنځي د داخلي چاپېريال پياوړتياوې او کمزورۍ ارزول شوي، او وروسته د بهرني چاپېريال فرصتونه او ګواښونه په علمي او تحليلي ډول څېړل شوي، ترڅو د همدې تحليلونو پر بنسټ د پوهنځي ستراتېژۍ او پرمختيايي برنامې په اغېزمنه توګه تنظيم او عملي شي.

## داخلي عوامل

په دې عواملو کې د پوهنځی د قوت او ضعف ټکي په نښه شوي دی.

### قوي نقطې: (STRENGTH)

1. د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل.
2. د عملي کار لپاره د کمپيوټر لب شتون.
3. د پوهنتون په کچه کتابتون شتون.
4. منظمه رهبري او متعهد کاري ټيم درلودل.
5. د پوهنتون په کمپټو کې غړيتوب درلودل.
6. د پوهنځيو په کچه د لسو کمپټو شتون.
7. د کريډيټ سيستم تطبيق.
8. په کافي اندازه د اداري منابعو شتون.
9. د نوي درسي نصاب تطبيق.
10. اداري تعمير.
11. مجهز ټولګي درلودل.
12. د HEIMS سيستم تطبيق.
13. د انټرنټ شتون.
14. د استاد او محصل ترمنځ د ۱/۴۱ نسبت شتون.
15. د منظم کمپيوټر لب شتون.

### کمزوری نقطې: ( WEAKNESS)

1. د ماسټری او دوکترا په سويه د علمي کادرونو ستونزه.
2. د مجهزو معياري ټولګيو کمښت.
3. د تدريس لپاره مجهز او معياري کمپلکس نه درلودل.
4. مناسب تدريسي چاپيريال نشتون.
5. د څیړنیز مرکز نشتون.
6. د استادانو او اداري کار کوونکو د کورونو ستونزه.
7. د عملي کار لابراتوار لپاره د مسلکي لابرانت نه درلودل.
8. د آمريتونو لپاره ځانګړې شعبه نه درلودل.

## د داخلي محيط د عواملو تحليل او تجزيه

د ستراتيژيک پلان په دغه برخه کې هغه عوامل تحليل او تجزيه کيږي، کوم چې د پوهنځي تر کنټرول لاندي وي او پوهنځي کولاي شي له هغوي څخه د چارو د بهبود په موخه استفاده وکړي او تغير په کې راوړي . دا عوامل د کار پوه او مسلکي اشخاصو له لوري تعين شوي دي او د پوهنځی استادان، محصلين، اداري کارکوونکي او نور داخلي مواد تر څيړني لاندي نيسي.

د داخلي چاپيريال عوامل د داخلي محيط د ميټريکس (IFEM ) په اساس تحليل کيږي چې لاندي داخلي عواملو ته اشاره شوي ده.

### د داخلي محيط د عواملو تحليل

| شمېره | داخلي عوامل (قوتونه او ضعفونه) | وزني ضريب | وزني امتياز | موزون ضريب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۲ | د عملي کار لپاره د کمپيوټر لب شتون. | 0.02 | 4 | 0.08 |
| ۳ | د پوهنتون په کچه د کتابتون شتون. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۴ | منظمه رهبري او متعهد کاري ټيم درلودل. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۵ | د پوهنتون په کمپيوټکي غړيتوب درلودل. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۶ | د پوهنځی په کچه د لسو کمپټو شتون. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| ۷ | د کريډيټ سيستم تطبيق. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۸ | په کافي اندازه د اداري منابعو شتون. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۹ | د نوي درسي نصاب تطبيق. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۱۰ | اداري تعمير. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۱۱ | مجهز ټولگی درلودل. | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ۱۲ | د HEMIS سيستم تطبيق. | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۱۳ | د انټرنيټ شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۱۴ | د استاد او محصل ترمنځ د $\frac{۱}{۲۵}$ نسبت شتون. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۱۵ | د منظم کمپيوټر لب شتون. | 0.04 | 4 | 0.16 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | **داخلي عوامل (ضعفونه)** | |
| ۱۶ | د ماستري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۷ | د مجهزو معیاري ټولګیو کمښت. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۸ | د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل. | 0.02 | 1 | 0.02 |
| ۱۹ | مناسب تدریسي چاپیریال نشتون. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۲۰ | څیړنیز مرکز نشتون. | 0.1 | 2 | 0.2 |
| ۲۱ | د استادانواو اداري کارکوونکو د کوروښو ستونزه. | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۲۲ | د عملي کار لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نه درلودل. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۲۳ | د آمریتونو لپاره ځانګړې شعبه نه درلودل. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| | **مجموعه** | **1.00** | | **2.8** |

## د خارجي محیط د عواملو تحلیل او تجزیه

د ستراتیژیک پلان د SWOT تحلیل دویمه برخه د خارجي محیط د عواملو تحلیل دی .د خارجي محیط عوامل هغه خارجی عوامل په بر کي نیسي چې د پوهنځي د کنټرول څخه بهر وي او د پوهنځي پر داخلي محیط او فعالیتونو خپل تاثیر اچوي . په دي برخه کې مسلکي تیم د پنځه کلن ستراتیژیک پلان د ترتیبولو پر مهال ټول د خارجي محیط عوامل د استخدام کوونکو ادارو، اداري کارمندانو، استادانو او محصلینو څخه د پوښتنپاڼو له طریقه د پوهنځی اوسني او راتلونکې حالت په اړه په لاس راوړي دي.

د خارجي محیط د تحلیل لپاره لاندي خارجي عواملو ته اشا ره شوي ده:

**فرصتونه:**

1. له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا.
2. په ټولنه کې د ښه نوم درلودل.
3. له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښو اړیکو درلودل.
4. د نوي علمي تکنالوژی د تطبیق لپاره د ظرفیتونو شتون.
5. د ټولني همکاري او ملاتړ درلودل.
6. په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل.
7. د زیربینا لپاره د لازم چاپیریال شتون.

## گواښونه:

1. د محصلینو  لپاره د لیلیې نه شتون.
2. د آزموینو ملی اداري له لاري د ټيټې سويې محصلینو معرفي کېدل.
3. د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل.
4. د استادانو د معاشاتو کمښت.
5. د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون.
6. په ګمارنو کې د غیر ذیربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه.
7. د ټولنې ضعیف اقتصادی وضعیت.

## د خارجي محیط د عواملو تحلیل

| شمیره | بیروني عوامل (فرصتونه) | ضریب | امتیاز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا. | 0.15 | 4 | 0.6 |
| ۲ | په ټولنه کې د ښه نوم درلودل. | 0.15 | 4 | 0.6 |
| ۳ | له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښو اړیکو درلودل. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۴ | د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره د ظرفیتونو شتون. | 0.1 | 4 | 0.4 |
| ۵ | د ټولنې همکاري او ملاتړ درلودل. | 0.1 | 4 | 0.4 |
| ۶ | په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۷ | د زیربینا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| | **بیروني عوامل (تهدیدونه)** | | | |
| ۸ | د آزموینو ملی اداري له لاري د ټيټې سويې محصلینو معرفي کېدل. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۹ | د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۰ | د استادانو د معاشاتو کمښت. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۱ | د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۲ | په ګمارنو کې د غیر ذیربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۳ | د ټولنې ضعیف اقتصادی وضعیت. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۴ | د محصلینو  لپاره د لیلیې نه شتون. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| | **مجموعه** | **1** | | **2.95** |

## د کمپیوټر ساینس پوهنځی د داخلي او خارجي محیط مقایسه

په دې برخه کې، د چاپېریال د داخلي او د بیروني اصلي عواملو څخه په استفادې لکه د سواټ ( SWOT ) او همدارنګه د چارپېریال د داخلي او د بیروني عواملو ( IE ) مټریکس له مخې تطبیق کیدای شي، چې د پوهنځی تعین شوي تګلاري (ستراتیژی ) د پوهنځی د ماموریت او د چاپېریال د داخلي او د بیروني عواملو سره مطابقت لري، چې دلته د ( IE ) میتود څخه استفاده کوو.

**(IE ) تګلاره**

د داخلي او بیروني عواملو د هم مهاله تجربې او تحلیل لپاره د داخلي او بیروني عواملو ( IE ) مټریکس په نوم یو ابزار کارول کیږی، دغه مټریکس د تحصیلی نهاد د موقف او حالت د ټاکلو لپاره استعمالیږی، د دغه مټریکس د جوړولو لپاره باید د داخلي او بیروني عواملو د مټریکس څخه په لاس راغلی نمرې د دغه مټریکس په افقی او عمودې ابعادو کې ځای پر ځای شي، تر څو د تحصیلی نهاد موقف د دغه مټریکس په خانو کې روښانه شی .او پر همدی آساس مناسبه تګلاره (ستراتیژی )د تحصیلی نهاد لپاره وټاکل شی. داخلي او بیروني مټریکس په دوه شکلونو وړاندې کیږی، چې یوه ته یې نهه خانه یې مټریکس او بل ته یې څلور
خانه یې مټریکس ویل کیږی.

**روش ( IE)**

د داخلي او بیروني(IE ) روش په ذریعه د پوهنځی اوسنی موقعیت



**په لاندې جدول کې په ښه ډول څرګندیږي:**




د داحلي او خارجي فکتورونو په نه خونو میترکس کې که چیرې د نمرو له مخې، د پوهنځی موقعیت په VI، III، II خونو کې ځاي په ځاي شي نو دا د پوهنځی وده او پرمختګ څرګندوي. او که دا په IX, V, I خونو کې ځای پرځای شي، دا د پوهنځی د ساتنې او ثبات ستراتیژیو استازیتوب کوي. او که چیرې دا د IIX, VII, IV په خونو کې ځای پرځای شي، دا د دفاعي او کمولو ستراتیژیو ته اشاره کوي. نو د کمپیوټر ساینس پوهنځی ستراتیژیک موقعیت د اخیستل شوو نمرو له مخې په IIIخونه کې موقعیت لري چې وده او پرمختګ څرګندوي.

## د کمپيوټر ساينس پوهنځي ستراتيژيک حالت

د داخلي او خارجي وضعيت اړوند کومې پوښتنپاڼې چې د خبره کسانو لخوا ډکې شوي پرمټ د امتيازاتو د محاسبې په وسيله د کمپيوټر ساينس پوهنځی ستراتيژيک حالت ټاکل شوی او په لاندې ډياګرام کې ښودل کيږي.  نو د کمپيوټر ساينس پوهنځی ستراتيژيک حالت د اخيستل شوو نمرو له مخې په اوله خونه کې موقعيت لري چې د تهاجمی حالت څرګندوي




I - تهاجمي تګلاره ( ستراتيژي (SO) : د دې تګلاري ( ستراتيژی )په کالب کې، د لوړو زده کړو بنسټ د داخلي ځواکمنو نقطو پر مټ هڅه کوي چې له بهرنيو فرصتونو ګټه پورته کړي.

II - محافظه کارانه تګلاره( ستراتيژي(WO) : د دې تګلاري( ستراتيژي ) موخه په بهرني چاپيريال کې له شته فرصتونو څخه ګټه اخيستل دي ترڅو داخلي کمزوري نقطې پياوړي شي.

III - رقابتي تګلاره( ستراتيژي) (ST ) د دې تګلاري( ستراتيژي ) په پلي کولو کې د لوړو زده کړو بنسټ هڅه کوي چې د خپلو ځواکمنو نقطو څخه په ګټه اخيستنې، د بهرني چاپيريال له ننګونو څخه د رامنځته کېدونکو اغيزو کچه را ټيټه کړي او يا يې هم له منځه يوسي.

IV - تدافعي تګلاره( ستراتيژي) ( ST) د لوړو زده کړو نهادونه چې دا تګلاره( ستراتيژي ) پلي کوي، ځانته تدافعي حالت غوره کوي او موخه يې د داخلي کمزوريو راکمول او د بهرني چاپيريال له ننګونو څخه ځان ساتل دي.

داچه د کمپيوټر ساينس پوهنځی لپاره تهاجمي تګلاره( ستراتيژي ) تعين شوي ده، ځکه نو د داخلي ځواکمنو نقطو پر مټ هڅه کوي چې له بهرنيو فرصتونو څخه ګټه پورته کړي.

**د سواټ (SWOT) تګلاره**

د سواټ تحلیل او تجزیه د لاملونو هغه منظمه پېژندنه ده چې تګلاره (ستراتېژي) باید ورسره په غوره ډول همغږې وي. د نوموړې تګلارې منطق دا دی چې اغېزمنه تګلاره (ستراتېژي) د لوړو زده کړو د بنسټ قوتونه او فرصتونه تر اعظمي کچې ورسوي، او نیمګړتیاوې او ننګونې تر ممکنه حده راکمې کړي. دا تګلاره د لوړو زده کړو د بنسټ د داخلي او بهرنیو لاملونو ترمنځ د ستراتېژیک توازن د رامنځته کولو هڅه کوي.

د SWOTمخفف د **قوتونو**(Strengths) ، **کمزوریو**(Weaknesses) ، **فرصتونو** (Opportunities) او **ګواښونو** (Threats)استازیتوب کوي. دا تګلاره د ستراتېژیو د تدوین یوه مهمه وسیله ده. د دې تحلیل له لارې لومړی د ادارې د داخلي او بهرني چاپېریال تحلیل او ارزونه ترسره کېږي، او وروسته د همدې تحلیلونو پر بنسټ ستراتېژیکې پرېکړې نیول کېږي، ترڅو د لوړو زده کړو بنسټ له چاپېریالي فرصتونو څخه اغېزمنه ګټه واخلي او د احتمالي ګواښونو پر وړاندې مناسبې تګلارې غوره کړي.

## د SWOT تحلیل او د ستراتیژی وضاحت

| | قوتونه (S) | ضعفونه (W) |
|---|---|---|
| داخلي عوامل<br>خارجی عوامل | • د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل.<br>• د عملي کار لپاره د کمپیوټر لب شتون.<br>• د پوهنتون په کچه کتابتون شتون.<br>• منظمه رهبري او متعهد کاري ټیم درلودل.<br>• د پوهنتون په کمپټو کې غړیتوب درلودل.<br>• د پوهنځیو په کچه د لسو کمپټو شتون.<br>• د کریډیټ سیستم تطبیق.<br>• په کافي اندازه د اداري منابعو شتون.<br>• د نوي درسي نصاب تطبیق.<br>• اداري تعمیر.<br>• مجهز ټولګي درلودل.<br>• د HEIMS سیستم تطبیق.<br>• د انټرنټ شتون.<br>• د استاد او محصل ترمنځ د ۱/۲۵ نسبت شتون.<br>• د منظم کمپیوټر لب شتون. | • د ماسټری او دوکترا په سویه د علمي کادرونو ستونزه.<br>• د مجهزو معیاري ټولګیو کمښت.<br>• د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل.<br>• مناسب تدریسي چاپېریال نشتون.<br>• د څېړنیز مرکز نشتون.<br>• د استادانو او اداري کار کوونکو د کورونو ستونزه.<br>• د عملي کار لابراتوار لپاره د مسلکي لابرانت نه درلودل.<br>• د آمریتونو لپاره ځانګړې شعبه نه درلودل. |

| **فرصتونه(O)** | **تهاجمي ستراتیژی (SO)** | **محافظه کاره ستراتیژی(WO)** |
| --- | --- | --- |
| • له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا.<br>• په ټولنه کې د ښه نوم درلودل.<br>• له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښه اړیکو درلودل.<br>• د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره ظرفیتونو شتون.<br>• د ټولني همکاري او ملاتړ درلودل.<br>• په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل.<br>• د زیربینا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | • د (S1)په مرسته د (O1)او (O3)څخه اغېزمنه ګټه اخیستل .<br>• د (S2)په مرسته د (O4)څخه د عملي زده کړو د پراختیا لپاره استفاده کول .<br>• د (S3)په مرسته د (O5)څخه د علمي سرچینو د پراختیا لپاره ګټه اخیستل .<br>• د (S4)په مرسته د (O6)له روزنیزو پروګرامونو څخه اعظمي استفاده کول .<br>• د (S5)په مرسته د (O3)له علمي اړیکو څخه ګټه پورته کول .<br>• د (S6)په مرسته د (O5)ملاتړ د علمي او اداري فعالیتونو لپاره جلبول .<br>• د (S7)په مرسته د (O2)او (O4)څخه د کیفیت د لوړولو لپاره استفاده کول .<br>• د (S8)په مرسته د (O5)څخه د اداري خدماتو د ښه والي لپاره ګټه اخیستل .<br>• د (S9)په مرسته د (O4)له نوې ټکنالوژۍ څخه په نصاب کې استفاده کول .<br>• د (S10)په مرسته د (O7)له زیربنایي فرصتونو څخه استفاده کول .<br>• د (S11)په مرسته د (O5)څخه د تدریسي چاپیریال د لا ښه والي لپاره ګټه اخیستل .<br>• د (S12)په مرسته د (O4)له ډیجیټلي امکاناتو څخه اغېزمنه استفاده کول .<br>• د (S13)په مرسته د (O6)له علمي کورسونو او ورکشاپونو څخه استفاده کول .<br>• د (S14) په مرسته د (O1)له محصلینو سره د علمي کیفیت لوړول .<br>• د (S15)په مرسته د (O4)له نوې ټکنالوژۍ څخه د عملي زده کړو پیاوړتیا. | • د (O1)، (O3)، (O4)او (O6) په مرسته د (W1) ستونزه کمول .<br>• د (O5)او (O7)په مرسته د (W2)ستونزه حل کول .<br>• د (O7)په مرسته د (W3)د معیاري کمپلکس اړتیا پوره کول .<br>• د (O5)او (O7)په مرسته د (W4)مناسب تدریسي چاپېریال رامنځته کول .<br>• د (O3)او (O4)په مرسته د (W5) د څېړنیز مرکز ستونزه حل کول .<br>• د (O5)په مرسته د (W6)د استادانو او کارکوونکو د استوګنې ستونزې ته رسېدنه .<br>• د (O4)او (O6)په مرسته د (W7) لپاره مسلکي لابرانت روزل او جذبول .<br>• د (O3)او (O5)په مرسته د (W8)لپاره د آمریتونو ځانګړې شعبې جوړول. |

| تهدیدونه(T) | رقابتي ستراتیژی(ST) | دفاعي ستراتیژی(WT) |
|---|---|---|
| • د آزموینو ملی اداري له لارې د ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل.<br>• د علمي کادرونو او خدماتي کارکونکو محدود تشکیل.<br>• د استادانو د معاشاتو کمښت.<br>• د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون.<br>• په ګمارنو کې د غیر ذیربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه.<br>• د ټولنې ضعیف اقتصادی وضعیت.<br>• د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | • د (S2)، (S4)او (S7)په مرسته د (T1) اغېزې کمول .<br>• د (S1)او (S4)په مرسته د (T2)اغېزې راکمول .<br>• د (S1)او (S14)په مرسته د (T3) اغېزې کمول .<br>• د (S3)او (S9)په مرسته د (T4)ستونزه کمول .<br>• د (S4)او (S5)په مرسته د (T5)اغېزې محدودول .<br>• د (S1)په مرسته د (T6)پر وړاندې اغېزمنه مقابله کول .<br>• د (S10) او (S11)په مرسته د (T7) اغېزې راکمول. | • د (W1)د کمولو له لارې د (T2)اغېزې راکمول .<br>• د (W2)د حل په وسیله د (T1)ستونزې مخنیوی .<br>• د (W3)د حل له لارې د (T7)اغېزې کمول .<br>• د (W4)د ښه کولو له لارې د (T6)اغېزې محدودول .<br>• د (W5)د حل په وسیله د (T4)ستونزه راکمول .<br>• د (W6)د حل له لارې د (T3)اغېزې کمول .<br>• د (W7)د حل په وسیله د (T1)او (T4)اغېزې کمول .<br>• د (W8)د حل له لارې د (T5)اغېزې راکمول. |

# څلورم څپرکی

## د موخو او ستراتیژیو تدوین

**د تګلارو ( ستراتیژیو) ټاکنه**

هغه تګلارې (ستراتیژۍ) چې د کميتي ستراتيژيک پلان جوړونې متریکس (QSPM – Quantitative Strategic Planning Matrix)یا کمیتي اوږدمهاله ستراتيژيک پلان جوړونې د تحلیل پر بنسټ غوره کېږي، د تګلارو (ستراتيژيو) لپاره لومړیتوب ټاکي. د دغه تحلیل پر بنسټ، د کمپیوټر ساینس پوهنځي د اوږدمهاله ستراتيژيکو پلانونو د پلي کولو لپاره مناسبې او ممکنه تګلارې غوره کېدای شي، چې د نمونې په توګه یې لاندې یادونه شوې ده.

په دې مرحله کې د کمیتي اوږدمهاله ستراتيژيک پلان جوړونې متریکس (QSPM) په کارولو سره، د کمپیوټر ساینس پوهنځي د ستراتيژيک پلان د پلي کولو په موخه بېلابېل ستراتيژيک انتخابونه پېژندل، تحلیل او ارزول کېږي. دغه متریکس د هرې ستراتيژۍ نسبي جذابیت او اهمیت ارزوي او د ټاکل شوو معیارونو پر بنسټ ورته لومړیتوب ټاکي. د تګلارو (ستراتيژيو) د نسبي جذابیت، اغېزمنتیا او د هغوی د لومړیتوبونو د ټاکلو له مخې، د کمپیوټر ساینس پوهنځي د اوږدمهاله ستراتيژيک پلان کمېټې غړي کولای شي هغه غوره ستراتيژۍ انتخاب کړي چې د پوهنځي د علمي، څېړنیزو، ټکنالوژيکي او مسلکي موخو په ترلاسه کولو کې تر ټولو زیات اغېز ولري.

**د علمي کادرونو د ظرفیت لوړول**

1. د علمي کادرونو د ماسترۍ او دوکتورا تحصیلي فرصتونو برابرول .
2. د استادانو د مسلکي او تخصصي روزنو پراختیا .
3. د نوې ټکنالوژۍ او معاصرو کمپیوټري علومو په برخو کې د استادانو روزنه .
4. د استادانو د تدریسي او څېړنیزو مهارتونو پیاوړتیا .
5. د علمي او مسلکي همکاریو او استادانو د علمي تبادلې پراختیا .
6. د مسلکي او تخصصي علمي کادرونو جذب او ساتنه .
7. د استادانو د علمي څېړنو او علمي خپرونو ملاتړ .
8. د استادانو د مسلکي پرمختګ او فعالیت ارزونې منظم سیستم رامنځته کول.

**د عصري او بازار محور  نصاب پراختیا**

9. د درسي نصاب دوره‌يي بیاکتنه او نوي کول .
10. د کار بازار او IT سکتور د اړتیاوو ارزونه .
11. په نصاب کې د نوې ټکنالوژۍ او معاصرو تخصصي برخو شاملول .
12. د عملي او پروژه‌محور زده‌کړو پراختیا .
13. د نصاب مطابق د معیاري درسي او برېښنایي منابعو برابرول .
14. د IT ادارو او مسلکي متخصصینو په همکارۍ د نصاب ارزونه او اصلاح .
15. د محصلینو د مسلکي مهارتونو او کارموندنې اړوند محتوا پیاوړې کول .
16. د نصاب د تطبیق، ارزونې او دوامدارې اصلاح سیستم رامنځته کول.

**د عملي زده کړو او تخصصي لابراتوارونو پیاوړتیا**

17. د موجودو کمپیوټر لابراتوارونو تجهیز او معیاري کول .
18. د تخصصي کمپیوټري لابراتوارونو رامنځته کول .
19. د لابراتوارونو لپاره د معیاري وسایلو او سافټویرونو برابرول .
20. د مسلکي لابراتواري کارکوونکو جذب او روزنه .
21. د عملي او پروژه‌محور زده‌کړو پراختیا .
22. د نوې ټکنالوژۍ پر بنسټ د تخصصي عملي زده‌کړو پراختیا .
23. د لابراتوارونو د ساتنې او نوي کولو منظم سیستم رامنځته کول .
24. د محصلینو د عملي پروژو او تخنیکي فعالیتونو پراختیا.

**د ډیجیټلي زده کړو او ټکنالوژۍ پراختیا**

25. د ډیجیټلي زده‌کړو د زیربناوو پراختیا .
26. د آنلاین او برېښنایي زده‌کړو سیستم پیاوړتیا .
27. د برېښنایي درسي او علمي منابعو پراختیا .
28. د استادانو او محصلینو د ډیجیټلي مهارتونو لوړول .
29. د عصري تعلیمي ټکنالوژیو کارونې پراختیا .
30. د HEMIS او معلوماتي سیستمونو اغېزمنه کارونه .
31. د انټرنېټ او شبکې د خدماتو پیاوړتیا .

**د څېړنې او نوښت پراختیا**

32. د څېړنیز مرکز رامنځته کول او پیاوړتیا .
33. د استادانو او محصلینو د څېړنیزو مهارتونو لوړول .
34. د کمپیوټر ساینس په معاصرو برخو کې د څېړنیزو پروژو پراختیا .
35. د علمي مقالو او څېړنیزو اثارو د خپرولو ملاتړ .
36. د علمي کنفرانسونو، سیمینارونو او څېړنیزو ورکشاپونو پراختیا .
37. د نوښتگرو او عملي څېړنیزو پروژو ملاتړ .
38. د ګډو څېړنو او علمي همکاریو پراختیا .
39. د محصلینو د نوښت او علمي پروژو ملاتړ.

**د محصلینو د علمي او مسلکي وړتیاوو لوړول.**

40. د محصلینو د مسلکي او تخصصي روزنو پراختیا .
41. د محصلینو د عملي او پروژه‌محور زده‌کړو پیاوړتیا .
42. د معاصرو کمپیوټري برخو د مهارتونو پراختیا .
43. د مسلکي تصدیقونو او تخصصي کورسونو زمینه برابرول .
44. د محصلینو د علمي او نوښتگرو پروژو ملاتړ .
45. د علمي او تخنیکي سیالیو او ورکشاپونو پراختیا .
46. د کارآموزۍ او عملي تجربې زمینه برابرول .
47. د محصلینو د کارموندنې او کارآفرینۍ مهارتونو پیاوړتیا.

**د تدریسي چاپیریال او تعلیمي زیربناوو معیاري کول.**

48. د کمپیوټر ساینس پوهنځي لپاره د یو معیاري او مجهز تدریسي تعمیر جوړول .
49. د معیاري او مجهزو ټولګیو جوړول او تجهیزول .
50. د تخصصي کمپیوټر لابراتوارونو لپاره د مناسبې فزیکي فضا جوړول او تجهیزول .
51. د موجودو تدریسي تاسیساتو معیاري کول او بیا رغول .
52. د تدریسي خونو لپاره د اړینو وسایلو او تعلیمي تجهیزاتو برابرول .
53. د برېښنا او انټرنېټ د زیربناوو پیاوړتیا او معیاري کول .
54. د استادانو او محصلینو لپاره د مناسب او معیاري تدریسي چاپېریال رامنځته کول .
55. د تعلیمي زیربناوو د ساتنې، ترمیم او دوامداره پراختیا سیستم رامنځته کول .
56. د تدریسي چاپېریال او تعلیمي زیربناوو د کیفیت د ارزونې او څارنې منظم سیستم رامنځته کول.

### د درسي او علمي منابعو پراختیا

57. د کمپیوټر ساینس د نصاب مطابق د معیاري درسي کتابونو برابرول .
58. د کمپیوټر ساینس په معاصرو برخو کې د علمي او تخصصي کتابونو برابرول .
59. د برېښنایي کتابونو او علمي منابعو د لاسرسي پراختیا .
60. د پوهنتون د کتابتون د کمپیوټر ساینس اړوندو منابعو بډایه کول .
61. د نړیوالو علمي ډېټابېسونو او برېښنایي ژورنالونو ته د لاسرسي زمینه برابرول .
62. د استادانو او محصلینو لپاره د علمي مقالو او څېړنیزو منابعو د لاسرسي اسانتیا رامنځته کول .
63. د درسي موادو، لکچر نوټونو او عملي لارښودونو معیاري کول او پراختیا .
64. د کمپیوټر ساینس د نوو او تخصصي برخو لپاره د تازه علمي منابعو دوامداره نوي کول .
65. د علمي او درسي منابعو د تنظیم، ساتنې او دوامداره نوي کولو منظم سیستم رامنځته کول.

### له اړوند ادارو سره د همکاریو پراختیا

66. له اړوندو امارتي او خصوصي ادارو سره د علمي او مسلکي همکاریو هوکړې لاسلیکول .
67. له IT ادارو او شرکتونو سره د محصلینو د کارآموزۍ او عملي زده‌کړو زمینه برابرول .
68. د اړوندو ادارو او IT متخصصینو په همکارۍ د مسلکي روزنیزو پروګرامونو او ورکشاپونو جوړول .
69. له پوهنتونونو او علمي ادارو سره د ګډو څېړنیزو پروژو پراختیا .
70. د استادانو او محصلینو لپاره د علمي او مسلکي تبادلې پروګرامونو رامنځته کول .
71. د IT سکتور له ادارو سره د درسي نصاب د ارزونې او د بازار د اړتیاوو د معلومولو په برخه کې همکاري .
72. له اړوندو ادارو سره د ګډو علمي، تخنیکي او نوښتګرو پروژو پلي کول .
73. د فارغینو د کارموندنې او مسلکي فرصتونو د پراختیا لپاره له اړوندو ادارو سره همغږي .
74. د علمي کنفرانسونو، سیمینارونو او تخصصي ناستو د جوړولو په برخه کې ګډې همکارۍ .
75. د همکاریو د دوام او ارزونې لپاره د منظمې همغږۍ او اړیکو سیستم رامنځته کول.

### ښه اداره او اغېزمنه رهبري

76. د کارونو د څنډ، اداري بې‌نظمۍ، تعصب او بې‌عدالتۍ پر وړاندې اغېزمنه مبارزه او د عادلانه کاري چاپېریال رامنځته کول .
77. د کمپیوټر ساینس پوهنځي استادانو، اداري کارکوونکو او محصلینو ته د اړوندو پالیسیو، لوایحو او طرزالعملونو په اړه د عامه پوهاوي ورکول او د مسلکي، وطن‌دوستۍ او امانتدارۍ روحیې پیاوړتیا .
78. د لوړو زده‌کړو اړوندو قوانینو، مقرراتو، فرمانونو، احکامو او رسمي لارښوونو د تطبیق او رعایت ډاډ ترلاسه کول .
79. د آزموینو د اړوندو لوایحو او طرزالعملونو سره سم د آزموینو د تنظیم، اخیستلو او ارزونې د بهیر معیاري کول .

80. د معلوماتي ټکنالوژۍ له لارې د پوهنځي د اداري سیستمونو نښلول او د اداري پروسو ډیجیټلي کول، ترڅو غیرضروري کاغذي چارې راکمې شي .
81. د اکاډمیکو اصولو، مسلکي معیارونو او علمي خپلواکۍ رعایت او پیاوړتیا .
82. د نوښت، ابتکار، اختراع او علمي فعالیتونو لپاره د اړینو تخنیکي امکاناتو، تجهیزاتو او مناسب علمي چاپېریال برابرول .
83. د کمپیوټر ساینس پوهنځي علمي او تدریسي چاپېریال له هر ډول غیرعلمي او غیرمسلکي لاسوهنو څخه خوندي ساتل او د علمي فعالیتونو لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کول .
84. د پوهنځي د اداري، علمي او تدریسي فعالیتونو د پلان جوړونې، تطبیق، څارنې او ارزونې منظم سیستم پیاوړی کول .
85. د تصمیم‌نیونې، اداري چارو او منابعو په مدیریت کې د شفافیت، حساب‌ورکونې او مسوولیت‌پذیرۍ اصل پیاوړی کول .
86. د پوهنځي د کمېټو، آمریتونو او اداري واحدونو ترمنځ د همغږۍ او ګډ کار پیاوړتیا .
87. د استادانو، اداري کارکوونکو او محصلینو د نظریاتو او وړاندیزونو د اورېدو او د مناسبو حل‌لارو د موندلو لپاره د اغېزمنې مشورتي فضا رامنځته کول.

**د کیفیت تضمین او اداري موثریت پیاوړتیا**

88. د کیفیت تضمین او داخلي ارزونې منظم سیستم پیاوړتیا .
89. د اداري پروسو ساده کول، معیاري کول او ډیجیټلي کول .
90. د علمي، اداري او تدریسي فعالیتونو منظم څارنه، ارزونه او راپور ورکول .
91. د اداري کارکوونکو د مسلکي ظرفیت لوړول او د اداري چارو د موثریت پیاوړتیا.

**لوړو زده کړو ته د لاس رسي پراختیا**

92. د کمپیوټر ساینس په برخه کې د تحصیلي فرصتونو پراختیا .
93. د وړ او مستحقو محصلینو د جذب او شاملېدو لپاره د اسانتیاوو برابرول .
94. د محصلینو د جذب او شمولیت د بهیر د اسانتیا او موثریت پیاوړتیا .
95. د برېښنایي او ډیجیټلي زده‌کړو د فرصتونو پراختیا .
96. د لرې‌واټن زده‌کړو د اسانتیاوو او امکاناتو پراختیا .
97. د اقتصادي پلوه کم‌وسه او مستحقو محصلینو لپاره د تحصیلي ملاتړ زمینه برابرول .
98. د ټولنې د اړتیاوو او د کار بازار مطابق د کمپیوټر ساینس د تحصیلي پروګرامونو پراختیا

# د (QSPM) په اساس د ستراتیژیو د لومړیتوبونو ټاکل

د کمپیوټر ساینس پوهنځي ستراتیژیک لومړیتوبونه د ټاکل شویو ستراتیژیو او د لوړو زده کړو وزارت د لومړیتوبونو په اساس محترمو محصلینو ته لاندې تقرر ټاکل شوی دی

**د (QSPM) په اساس د ستراتیژیو د اولویت تعین**

| ستراتیژیگانې / محیطي عوامل ( خارجي او داخلي) | د اهمیت ضریب | د علمي کادرونو د ظرفیت لوړول | | د عصري او بازار محور نصاب پراختیا | | د عملي زده کړو او تخصصي لابراتوارونو پیاوړتیا | | د ډیجیټلي زده کړو او ټکنالوژۍ پراختیا | | د ستراتیژۍ نوم په اصلي فایل کې نیمگړی دی | | د محصلینو د علمي او مسلکي وړتیاوو لوړول | | د تدریسي چاپېریال او تعلیمي زیربناوو معیاري کول | | د درسي او علمي منابعو پراختیا | | له اړوندو ادارو سره د همکاریو پراختیا | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره |
| د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل. | 0.030 | 0.121 | 4 | 0.091 | 3 | 0.091 | 3 | 0.091 | 3 | 0.091 | 3 | 0.091 | 3 | 0.061 | 2 | 0.061 | 2 | 0.091 | 3 |
| د عملي کار لپاره د کمپیوټر لب شتون. | 0.020 | 0.040 | 2 | 0.040 | 2 | 0.081 | 4 | 0.081 | 4 | 0.020 | 1 | 0.081 | 4 | 0.061 | 3 | 0.040 | 2 | 0.061 | 3 |
| د پوهنتون په کچه کتابتون شتون. | 0.030 | 0.061 | 2 | 0.091 | 3 | 0.030 | 1 | 0.091 | 3 | 0.121 | 4 | 0.091 | 3 | 0.061 | 2 | 0.121 | 4 | 0.091 | 3 |
| منظمه رهبري او متعهد کاري ټیم درلودل. | 0.020 | 0.040 | 2 | 0.040 | 2 | 0.020 | 1 | 0.040 | 2 | 0.020 | 1 | 0.040 | 2 | 0.040 | 2 | 0.040 | 2 | 0.040 | 2 |
| د پوهنتون په کمپټو کې غړیتوب درلودل. | 0.030 | 0.061 | 2 | 0.061 | 2 | 0.030 | 1 | 0.061 | 2 | 0.091 | 3 | 0.061 | 2 | 0.030 | 1 | 0.061 | 2 | 0.121 | 4 |
| د پوهنځیو په کچه د لسو کمپټو شتون. | 0.040 | 0.040 | 1 | 0.040 | 1 | 0.040 | 1 | 0.040 | 1 | 0.040 | 1 | 0.040 | 1 | 0.040 | 1 | 0.040 | 1 | 0.121 | 3 |
| د کریډیټ سیستم تطبیق. | 0.020 | 0.020 | 1 | 0.061 | 3 | 0.061 | 3 | 0.061 | 3 | 0.020 | 1 | 0.061 | 3 | 0.040 | 2 | 0.040 | 2 | 0.040 | 2 |
| په کافي اندازه د اداري منابعو شتون. | 0.030 | 0.061 | 2 | 0.061 | 2 | 0.061 | 2 | 0.061 | 2 | 0.030 | 1 | 0.061 | 2 | 0.061 | 2 | 0.061 | 2 | 0.061 | 2 |
| د نوي درسي نصاب تطبیق. | 0.040 | 0.121 | 3 | 0.162 | 4 | 0.121 | 3 | 0.162 | 4 | 0.081 | 2 | 0.162 | 4 | 0.081 | 2 | 0.121 | 3 | 0.121 | 3 |
| اداري تعمیر. | 0.051 | 0.051 | 1 | 0.051 | 1 | 0.152 | 3 | 0.152 | 3 | 0.051 | 1 | 0.101 | 2 | 0.202 | 4 | 0.101 | 2 | 0.101 | 2 |
| مجهز ټولگي درلودل. | 0.071 | 0.071 | 1 | 0.141 | 2 | 0.283 | 4 | 0.212 | 3 | 0.141 | 2 | 0.283 | 4 | 0.283 | 4 | 0.212 | 3 | 0.212 | 3 |
| د HEIMS سیستم تطبیق. | 0.081 | 0.162 | 2 | 0.242 | 3 | 0.162 | 2 | 0.323 | 4 | 0.242 | 3 | 0.242 | 3 | 0.162 | 2 | 0.162 | 2 | 0.242 | 3 |
| د انټرنټ شتون. | 0.051 | 0.101 | 2 | 0.101 | 2 | 0.152 | 3 | 0.202 | 4 | 0.101 | 2 | 0.152 | 3 | 0.152 | 3 | 0.101 | 2 | 0.152 | 3 |
| د استاد او محصل ترمنځ د نسبت شتون. | 0.051 | 0.101 | 2 | 0.152 | 3 | 0.152 | 3 | 0.152 | 3 | 0.101 | 2 | 0.202 | 4 | 0.101 | 2 | 0.101 | 2 | 0.152 | 3 |
| د منظم کمپیوټر لب شتون. | 0.040 | 0.081 | 2 | 0.081 | 2 | 0.162 | 4 | 0.162 | 4 | 0.081 | 2 | 0.162 | 4 | 0.121 | 3 | 0.121 | 3 | 0.121 | 3 |
| د ماسټري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود. | 0.051 | 0.202 | 4 | 0.152 | 3 | 0.101 | 2 | 0.101 | 2 | 0.101 | 2 | 0.101 | 2 | 0.051 | 1 | 0.051 | 1 | 0.152 | 3 |
| د مجهزو معیاري ټولگیو کمښت. | 0.051 | 0.051 | 1 | 0.101 | 2 | 0.152 | 3 | 0.101 | 2 | 0.051 | 1 | 0.101 | 2 | 0.202 | 4 | 0.051 | 1 | 0.101 | 2 |
| د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل. | 0.020 | 0.020 | 1 | 0.020 | 1 | 0.081 | 4 | 0.061 | 3 | 0.020 | 1 | 0.040 | 2 | 0.081 | 4 | 0.020 | 1 | 0.040 | 2 |
| مناسب تدریسي چاپېریال نشتون. | 0.051 | 0.051 | 1 | 0.101 | 2 | 0.152 | 3 | 0.101 | 2 | 0.051 | 1 | 0.152 | 3 | 0.202 | 4 | 0.101 | 2 | 0.101 | 2 |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | 0.404 | 2 | 0.202 | 1 | 0.101 | 3 | 0.303 | 4 | 0.404 | 1 | 0.101 | 1 | 0.101 | 1 | 0.101 | 2 | 0.202 | 0.101 | خېړنيز مرکز نشتون. |
| 2 | 0.121 | 1 | 0.061 | 1 | 0.061 | 1 | 0.061 | 1 | 0.061 | 1 | 0.061 | 1 | 0.061 | 1 | 0.061 | 1 | 0.061 | 0.061 | د استادانو او اداري کارکوونکو د کورونو ستونزه. |
| 3 | 0.030 | 1 | 0.010 | 3 | 0.030 | 3 | 0.030 | 1 | 0.010 | 2 | 0.020 | 4 | 0.040 | 1 | 0.010 | 2 | 0.020 | 0.010 | د عملي کار لابراتوار لپاره د مسلکي لابرانټ نه درلودل. |
| 3 | 0.152 | 1 | 0.051 | 1 | 0.051 | 1 | 0.051 | 2 | 0.101 | 1 | 0.051 | 1 | 0.051 | 1 | 0.051 | 1 | 0.051 | 0.051 | د آمریتونو لپاره ځانګړې شعبه نه درلودل. |
| 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 2 | 0.100 | 3 | 0.150 | 4 | 0.200 | 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 0.050 | له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل ليوالتيا. |
| 3 | 0.450 | 3 | 0.450 | 2 | 0.300 | 4 | 0.600 | 3 | 0.450 | 3 | 0.450 | 2 | 0.300 | 3 | 0.450 | 2 | 0.300 | 0.150 | په ټولنه کې د ښه نوم درلودل. |
| 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 2 | 0.100 | 3 | 0.150 | 4 | 0.200 | 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 0.050 | له اړونده تعليمي اداراتو سره د ښو اړيکو درلودل. |
| 3 | 0.300 | 3 | 0.300 | 3 | 0.300 | 4 | 0.400 | 4 | 0.400 | 4 | 0.400 | 4 | 0.400 | 4 | 0.400 | 4 | 0.400 | 0.100 | د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبيق لپاره د ظرفيتونو شتون. |
| 4 | 0.400 | 2 | 0.200 | 3 | 0.300 | 3 | 0.300 | 2 | 0.200 | 3 | 0.300 | 2 | 0.200 | 2 | 0.200 | 2 | 0.200 | 0.100 | د ټولنې همکاري او ملاتړ درلودل. |
| 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 2 | 0.100 | 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 4 | 0.200 | 4 | 0.200 | 4 | 0.200 | 4 | 0.200 | 0.050 | په هيواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل. |
| 3 | 0.150 | 2 | 0.100 | 4 | 0.200 | 2 | 0.100 | 1 | 0.050 | 3 | 0.150 | 3 | 0.150 | 2 | 0.100 | 2 | 0.100 | 0.050 | د زيربينا لپاره د لازم چاپيريال شتون. |
| 1 | 0.050 | 2 | 0.100 | 1 | 0.050 | 4 | 0.200 | 1 | 0.050 | 2 | 0.100 | 2 | 0.100 | 3 | 0.150 | 1 | 0.050 | 0.050 | د آزموينو ملی ادارې له لارې د ټيټې سويې محصلينو معرفي کېدل. |
| 2 | 0.100 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 2 | 0.100 | 2 | 0.100 | 3 | 0.150 | 3 | 0.150 | 2 | 0.100 | 4 | 0.200 | 0.050 | د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکيل. |
| 2 | 0.100 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 3 | 0.150 | 0.050 | د استادانو د معاشاتو کمښت. |
| 2 | 0.100 | 4 | 0.200 | 2 | 0.100 | 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 4 | 0.200 | 2 | 0.100 | 0.050 | د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون. |
| 2 | 0.100 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 2 | 0.100 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 2 | 0.100 | 0.050 | په ګمارنو کې د غير ذيربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه. |
| 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 0.050 | د ټولنې ضعيف اقتصادی وضعيت. |
| 2 | 0.100 | 2 | 0.100 | 4 | 0.200 | 3 | 0.150 | 1 | 0.050 | 2 | 0.100 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 1 | 0.050 | 0.050 | د محصلينو لپاره د ليليې نه شتون. |
